داعمالو دعرضه کیدلو دحدیث
تصحیح او شرحه

لیکوال

عبد الله بن محمد بن الصدیق الغماری

دری نه ژباړه

مجاهد دین

پښتو ته ژباړه

راز محمد فرید

دکتاب اصلی عنوان:	داعمالو دعرضه کیدلو دحدیث تصحیح او شرحه
عنوان اصلی	نهاية الآمال في صحة وشرح حديث عرض الأعمال
لیکوال:	عبد الله بن محمد بن الصديق الغماري
دری ته ژباړه:	مجاهد دين
پښتوته ژباړه:	راز محمد فريد
نوبت انتشار:	اول (ديجيتال)
تاريخ انتشار:	۲۳ دی ۱۳۹۷ ه. ش – ۷ جمادی الأولی ۱۴۴۰ ه. ق
منبع:	www. islamsj. blogspot. com

این کتاب از سایت مجاهد دین دانلود شده است

www.islamsj.blogspot.com

داعمالو دعرضه کیدلو دحدیث تصحیح او شرحه

ليكوال:

عبد الله بن محمد بن الصديق الغماري

پښتو ته ژباړه:

راز محمد فريد

فهرست

فهرست ۱

دمقدمه مترجم ۱

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دهغه په ژوند کی دامت اواعمالو عرضه (وړاندی) کیدل. ۲

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ژوند کی عرضه کیدل دانبیاو له امتونو سره یی: ٦

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ژوند کی دجنت او دوزخ عرضه کیدل: ۷

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دټولو شیانو اوهرهغه څه چی ترقیامته پوری کیږی په ژوند کی عرضه(وړاندی) کیدل: ۱۱

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دامت دځینو افرادو عرضه کیدل په خوب کی: ۱۷

رسول الله صلی الله علیه وسلم به په لمانځه کی خپله شاه لیدله: ... ۱۸

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دصلاۀ او سلام عرضه کیدل.... ۲۰

متوفاته دځای عرضۀ کیدل. ۲۱

دمؤلف مقدمه. ۲۳

باب دی: په بیان دصحت دحدیث او دطروق و په ذکرکی......... ۲٤

دا حدیث شریف داسی شواهد ۳۱
قرآنکر یم دا حدیث تایید وی؛ ۳۳
دحوض حدیث، داعمالو دعرضه کیدلو حدیث تائید وی. ۳۸
قریبانوته داعمالوعر ضه کیدل داعمالو دعرضه کیدلو حدیث تائید وی: ۳۹
صلاۀ (درود)په رسول الله ﷺ باندی عرضه (وړاندی)کیږی اوصلاۀ هم داعمالو له جملی څخه دی. ٤٤
ابی قرصافه صحابی ٥٥
د«حَیَاتِی خَیْرٌ لَکُمْ»، حدیث دمسلم په شرط سره صحیح دی ٥٨
مرسل دمالکیه او حنفیه ؤ په نزد حجت دی:......................٥٩
باب: دی پرحدیث باندی د وارده اعتراضاتو رد کی. ٦٠
د دوه متعارضو دلایلو ترمینځ جمع کول واجب دی: ٦٢
دحوض دحدیث په نسبت ځواب په څلورو وجهو سره دی. ٦٤
نور توضحات چی دحوض حدیث رد وی (دحوض حدیث له قرآن اواجماع سره په تعارض کی) ٦٨
دحدیث دالفاظو شرحه اودمعنا بیان یی ٧١
فایده: ٧٧

دمقدمه مترجم

الْحَمْدُ للهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى وَكَمَا يَنْبَغِي لِكَرَمِ وَجْهِهِ وعِزِّ جَلَالِهِ اللَّهُمَّ وَصَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ وَعَلَى آلِهِ وَسَلِّمْ صَلَاةً تكُونُ لَكَ رِضًا وَلِحَقِّهِ أَدَاءً وَأَعْطِهِ الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَاجْزِهِ عَنَّا أَفْضَلَ مَا جَازَيْتَ نَبِينَا عَنْ أُمَّتِهِ وَأَحْيِنَا اللَّهُمَّ عَلَى سُنَّتِهِ وَتَوَفَّنَا عَلَى مِلَّتِهِ غَيْرَ مُبَدِّلِينَ وَلَا مُفَرِّطِينَ وَلَا مَفْتُونِينَ بِفَضْلِكَ وَكَرَمِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ

أما بعد:

دالله تعالی غوره مخلوق اوبنده، محمد علیه الصلاة والسلام دی کوم عزت مقام اومنزلت چې الله پاک هغه ته ورکړی دی خپلونورو بندګانو اومخلوقاتو ته یې نه دی عطاءکړی، هغه دالله تعالی روستی نبی اواستازی دی اودمحمود مقام خاوند دی. ستر شفاعت هغه ترسره کوي، دجهانیانو لپاره ستر رحمت دی. هغه دالله غوره بنده دی، الله تعالی دغه غوره بنده ته یې ځانګړی صفات اوخاصی ځانګړ نی هم ورکړی چې یوه له دغو ځانګړنو څخه هغه ته دځینو شیانو «عرضه کیدل» یا «ابلاغ کیدل» دی. دغه عرضه کېدل هغه ته په ژوند او هم په وفات کې ثابت دي.

دا کوم کتاب چې په مخکې لرې دیو ډول عرضه کیدلو له انواعو څخه یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دامت داعمالو عرضه کیدلو دموضوع داثبات په اړه دی.

لکه څنګه چې په حدیث شریف کې راغلی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ تُحَدِّثُونَ وَيُحَدَّثُ لَكُمْ، وَوَفَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ تُعْرَضُ عَلَيَّ أَعْمَالُكُمْ فَمَا رَأَيْتُ مِنَ خَيْرٍ حَمِدْتُ اللَّهَ عَلَيْهِ، وَمَا رَأَيْتُ مِنَ شَرٍّ اسْتَغْفَرْتُ اللَّهَ لَكُمْ». **ژباړه: «زما ژوند دتاسو لپاره خیردی (ځکه) خبرې کووي، اوتاسوته خبرې کېږې، اوزما وفات دتاسو لپاره خیردی (ځکه) دتاس اعمال ماته وړاندې کېږې، نوپرهغه څه د(اعمالودتاسونه) خیر وینم**

دالله تعالى حمد اوستاینه کو وم اوله هغه څه د(اعمالو) مو چې شروېنم دالله تعالى څخه درته دمغفرت غوښتنه کووم».

د دغه کتاب لیکوونکې د دې حدیث صحت اودهغه شواهد بیان کړې دی. د دې لپاره چې ځینې جهاتو دسدذریعې په خاطر دانبیاؤ اوصالحینو په حق کې له غلو څخه دا ګومان کووې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دامت داعمالو پرعرضه کیدلو باندې دهغه له وفات نه روسته عقیده لرل یو ډول غلو ده او داسې یو څه حقیقت نلري اودغسې شیان دغالیانو له خوا جعل او وضع شوې دی!اوډیر داسې څه کفر او شرک وبلی!خو حقیقت دادی چې داسې یوڅه نه درسول الله په حق کې غلو کول دی اونه هم شرک اوکفردی. بلکه داعمالو عرضهٔ کیدل، درسول الله صلی الله علیه وسلم دهغو لسګونو ځانکړنو څخه دی چې الله تبارک وتعالى خپل دغه ځانګړی بنده ته مختص کړی دی، حتی نه یواځې داچې له وفات څخه روسته دامت اعمال هغه ته وړاندې کېږې بلکه د ده په حیات کې هم ډیر موارد ورته عرضه شوې دی، لکه عرضه کیدل دانبیاؤ اودهغوې دامتونو په وېښه سره دحیات په وخت کې یې، اوداشان دجنت او دوزخ عرضه کیدل چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په حیات کې ترسره شوی اوداسې نور موارد چې دکتاب په وړدو کې به راشي کوم چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په حیات کې ورته عرضه شوې دې ذکر کړو ترڅو دغه مطلب ته مو پاملرنه وشي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دخپل امت داعمالو عرضه کیدل د ده له وفات نه روسته دهغه صلی الله علیه وسلم دحیات په پرتله کوم څه چې ورته عرضه شوې څه عجیبه غیرممکن شی او غلو نه ده.

بلکه کوم څه چې په ژوند کې ورته عرضه شوي له وفات روسته پرعرضه کیدلو باندې دځینو مواردو دلیل شاهد او مؤید دی چې له وفات نه روسته به هم ځنې امور هغه ته عرضه کېږې چې دهغو له جملې څخه دامت اعمال هم دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دهغه په ژوند کې دامت اواعمالو عرضه (وړاندې) کیدل.

امام مسلم رحمه الله اونورو له ابی ذر رضی الله عنه څخه روایت کړی چې وې فرمایل: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُ أُمَّتِي حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا، فَوَجَدْتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الْأَذَى يُمَاطُ عَنِ الطَّرِيقِ، وَوَجَدْتُ فِي مَسَاوِي أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَكُونُ فِي الْمَسْجِدِ، لَا تُدْفَنُ». [۱]

ژباړه: «زما دامت ښه اوبد اعمال راته وړاندې شول او دښوکارونو په مینځ کې مې، دلارې څخه د آزارونکو شیانو لېرې کوول ولېدل او دبدو کارونو څخه مې یې په جومات کې مې یې دپوزې اوبه غورځول او هغع نه پټول ولیدل. ».

اوامام احمد، ابن ماجه، ابن حبان او ابن ابی شیبه رحمهم الله او نورو، مذکوره حدیث په دغو الفاظو سره روایت کړی دی:

«عُرِضَتْ عَلَيَّ أُمَّتِي بِأَعْمَالِهَا حَسَنَةٍ وَسَيِّئَةٍ، فَرَأَيْتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهِمُ الْأَذَى يُمَاطُ عَنِ الطَّرِيقِ، وَرَأَيْتُ فِي مَسَاوِئِ أَعْمَالِهِمِ النُّخَاعَةَ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ».

ژباړه: «زما امّت له خپلو ښو اوبدو اعمالو سره ماته وړاندې(کړی)شول دښو کارنو په مینځ کې مې یې دلارې څخه دخند(اذیت ونکې) شیانو لېرې کیدل ولېدل، او دبدو کارنو په میځ کې مې یې په جومات کې دپوزې داوبو غورځول او دهغو نه (دفن) پټول ولېدل». [۲]

لکه څنګه چې په دغه صحیح حدیث کې لیدل کیږې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دهغه په ژوندانه کې دمحمد امت له اعمالو سره یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرضه (وړاندې) شووې دې.

۱- صحیح مسلم (۵۵۳)، مسند ابی داود الطیالسی (۴۸۵)، مسند احمد (۲۱۵۶۷) الأدب المفرد د البخاری (۲۳۰)، مسند البزار (۳۹۱۶)، صحیح ابن خزیمه (۱۳۰۸)، مستخرج ابی عوانه (۱۲۱۱)، صحیح ابن حبان (۱۶۴۲)، سنن الکبری دالبیهقی (۳۵۹۰)، شرح السنه د البغوی (۴۸۹).

۲- مسند احمد (۲۱۵۵۰)، ابن حبان (۱۶۴۰) و شعیب الأرناؤوط می‌گوید: اسنادش طبق شرط مسلم صحیح است. سنن ابن ماجه (۳۶۸۳) و الألبانی می‌گوید صحیح است. و مصنف ابن ابی شیبه (۲۶۳۴۹).

او په ضعيفه حديث کې له حذيفه رضى الله عنه نه راغلى چې ويلى يې دى: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «عُرِضَتْ عَلَيَّ أُمَّتِي الْبَارِحَةَ لَدَى هَذِهِ الْحُجْرَةِ، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا عُرِضَ عَلَيْكَ مَنْ خُلِقَ، فَكَيْفَ عُرِضَ عَلَيْكَ مَنْ لَمْ يُخْلَقْ؟ قَالَ: صُوِّرُوا لِيَ فِي الطِّينِ حَتَّى لَأَنا أَعْرَفُ بِهِمْ مِنْكُمْ مِنْ أَحَدِكُمْ بِصَاحِبِهِ».

ژباړه: «تيره شپه د دغه اتاق ترڅنګ امت مې راته عرضه شو، يوکس وويل: اى دالله رسوله!کوم خلک چې خلق شوى تاته وړاندې شول اما هغه کسان چې نه دې پيدا شوې څنګه تاته وړاندې کړل شول؟ وى فرمايل: په خټه کې راته په تصوير وکښل شول حتى چې يو لتاسونه يې له ملګري سره پېژني زما شناخت دتاسو په نسبت دهغو له ملګري سره ډيردى».[1]

دا حديث ضعيف دى په دې حديث کې دوه نکتې وجود لرې يا په بل عبارت سره په دې حديث کې دوه ادعاوې شووې دې، يوه داچې دهغه امت چې تراوسه خلق سوې نه دې دهغو په تصوير باندې کښل اوبل داچې درسول الله صلى الله عليه وسلم شناخت د امت له افرادو نه يې داسې چې له مونږ څخه يې ډيرزيات دهغو د خاوندانو او ملګروپه پرتله يې ور سره لرې.

اما لومړې ادّعاچې د بل صحيح حديث په وسيلې سره صحت ته رسيږې اوداثبات وړ ده، لکه څنګه چې دآدم عليه السلام ذريه مخکې له دې نه چې دزمکې پرمخ دنيا ته راشې پرهغه باندې عرضه شووې ده.

الحاکم په المستدرک کې له ابو هريره رضى الله عنه نه روايت کړى چې ويلى دې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ مَسَحَ ظَهْرَهُ، فَسَقَطَ مِنْ ظَهْرِهِ كُلُّ نَسَمَةٍ هُوَ خَالِقُهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، أَمْثَالَ الذَّرِّ، ثُمَّ جَعَلَ بَيْنَ عَيْنَيْ كُلِّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ وَبِيصًا مِنْ نُورٍ، ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى آدَمَ، فَقَالَ آدَمُ: مَنْ هَؤُلَاءِ يَا رَبِّ؟ قَالَ: هَؤُلَاءِ ذُرِّيَّتُكَ،

۱- معجم ابن الأعرابى (۱۸۶۶)، معجم الكبير دالطبرانى (۳۰۵۴-۳۰۵۵). آلبانى در السلسلة الضعيفة (۳۸۶۱) مى‌گويد: ضعيف است.

فَرَأَى آدَمُ رَجُلًا مِنْهُمْ أَعْجَبَهُ وَبِيصُ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ فَقَالَ: يَا رَبِّ مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا ابْنُكَ دَاوُدُ يَكُونُ فِي آخِرِ الْأُمَمِ قَالَ آدَمُ: كَمْ جَعَلْتَ لَهُ مِنَ الْعُمُرِ؟ قَالَ: سِتِّينَ سَنَةً. قَالَ: يَا رَبِّ زِدْهُ مِنْ عُمْرِي أَرْبَعِينَ سَنَةً، حَتَّى يَكُونَ عُمْرُهُ مِائَةَ سَنَةٍ. فَقَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: «إِذَنْ يُكْتَبُ وَيُخْتَمُ فَلَا يُبَدَّلُ». فَلَمَّا انْقَضَى عُمْرُ آدَمَ جَاءَهُ مَلَكُ الْمَوْتِ لِقَبْضِ رُوحِهِ، قَالَ آدَمُ أَوَ لَمْ يَبْقَ مِنْ عُمْرِي أَرْبَعُونَ سَنَةً؟ قَالَ لَهُ مَلَكُ الْمَوْتِ أَوَ لَمْ تَجْعَلْهَا لِابْنِكَ دَاوُدَ؟ قَالَ: فَجَحَدَ فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ وَنَسِيَ وَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ وَخَطِئَ فَخَطِئَتْ ذُرِّيَّتُهُ».

ژباړه: «کله چې الله پاک آدم علیه السلام پیدا کړو دهغه په شاباندې یې لاس راکاږو اود اولادې دهرفرد نسل یې ترقیامته پورې لکه د ذرېې خارج شول اودهرې ذر یې فرد پرتندې باندې یې نور وکرځولو، اوبیاېې هغه آدم علیه السلام ته وښودل آدم علیه السلام وفرمایل: پروردګارا! هغوې څوک دې؟ وې فرمایل: اولادونه د دې، آدم علیه السلام یوکس ولیدو چې دتندې رڼا یې حیران کړ وې ویل: پروردګارا! دا څوک دی؟ وې ویل: د روستی اولادې څخه دی یوکس دی اونوم یې داود علیه السلام دی، وې فرمایل: پروردګارا!! څوکاله عمردې ورته عطا کړی؟ وې فرمایل: شپېته کاله، وې ویل: پروردګارا! څلوېښت کاله! زما له عمر څخه ورکړه اوکله چې دآدم علیه السلام عمر تمام شو دمرک پرښته ورته راغله آدم علیه السلام ورته وفرمایل: زما دعمر څلوېښت کاله پاتې نه دې؟ دمرک پرښتې ورته و ویل: مکر هغه د زوی داود علیه السلام ته نه دی ورکړی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل نو آدم انکار وکړهغه دی چې اولاده یې هم انکارکوې!او آدم علیه السلام خطا وکړه، اولاده یې هم خطا کووې». [1]

کله چې دآدم علیه السلام ټوله ذرّیه او اولادونه مخکې له دینه چې په دې دنیاه کې پیدا شي آدم علیه السلام ته وړاندې او عرضه شول د دې ډول کار ترسره کوول الله پاک ته نا

۱- المستدرک علی الصحیحین (۳۲۷۵)، الحاکم می‌گوید: این حدیث طبق شرط مسلم صحیح است و الذهبی هم در التلخیص، آن را تایید کرده و گفته بر شرط مسلم است. همچنین: سنن الترمذی (۳۰۷۶)، مسند البزار (۸۸۹۲)، مسند ابی یعلی (۶۳۷۷).

شوني نه وو، نو بناء رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ټول امت عرضه کيدل مخکې دهغو له خلقت څخه په دې دنيا کې هم الله پاک ته ناشوني نه دي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په ژوند کې عرضه کيدل دانبياو له امتونو سره يې:

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ژوندانه کې انبياء عليهم السلام له امتونو سره يې چې دهغو ترمينځه خپل امت يې هم وو عرضه او وړاندې شول،

لکه څه رنګه چې په صحيح البخارى کې له ابن عباس رضى الله عنهما څخه روايت شوي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «عُرِضَتْ عَلَيَّ الأُمَمُ فَجَعَلَ النَّبِيُّ وَالنَّبِيَّانِ يَمُرُّونَ مَعَهُمُ الرَّهْطُ، وَالنَّبِيُّ لَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ، حَتَّى رُفِعَ لِي سَوَادٌ عَظِيمٌ، قُلْتُ: مَا هَذَا؟ أُمَّتِي هَذِهِ؟ قِيلَ: بَلْ هَذَا مُوسَى وَقَوْمُهُ، قِيلَ: انْظُرْ إِلَى الأُفُقِ، فَإِذَا سَوَادٌ يَمْلأُ الأُفُقَ، ثُمَّ قِيلَ لِي: انْظُرْ هَا هُنَا وَهَا هُنَا فِي آفَاقِ السَّمَاءِ، فَإِذَا سَوَادٌ قَدْ مَلأَ الأُفُقَ، قِيلَ: هَذِهِ أُمَّتُكَ، وَيَدْخُلُ الجَنَّةَ مِنْ هَؤُلاَءِ سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ».

ژباړه: «امّتونه ماته وړاندې شول، يو يادوه پيغمبران تيرشول اوله هريوه سره يوډله وه. او پيغمبر له هغه ځايه تېرسو چې هېڅ ډله ورسره نه وه. تردې چې يوستره ډله ماته عرضه شوله. ومې پوښتل دا څوک دي؟زما امت دى؟وې ويل: دا موسى او قوم يې دى افق ته وګوره، ناڅاپه مې ولېدل چې سترې تيارې افق نېولى دى. بيايې دآسمان څنډو ته اشاره وکړه اوماته يې ويل: دې خوا او آخواته وګوره ومې لېدل چې سترې تيار ټول افق نېولى دى. وى ويل: دا ستاامت دى چې اويازره کسان به له هغو څخه پرته له حساب نه جنت ته به داخل شي».[1]

او امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کې په باب د: «الْإِسْرَاءِ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى السَّمَاوَاتِ، وَفَرْضِ الصَّلَوَاتِ»کې له جابر رضى الله عنه نه روايت

۱- صحيح البخارى (۵۷۰۵)

کړی چې وې ویل: «عُرِضَ عَلَيَّ الْأَنْبِيَاءُ فَإِذَا مُوسَى ضَرْبٌ مِنَ الرِّجَالِ، كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ، وَرَأَيْتُ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ، وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ، فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا صَاحِبُكُمْ - يَعْنِي نَفْسَهُ -، وَرَأَيْتُ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا دَحْيَةُ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ رُمْحٍ: دَحْيَةُ بْنُ خَلِيفَةَ».

ژباړه: «(د اسراء په شپه) پیغمبران ماته وړاندې اوعرضه شول، موسی یو ډنګر سړی وو. ګواکې چې دشنوئت له کسانو څخه دی، او عیسی مې عروة بن مسعود ته ډیر ورته ولېدو، او ابراهیم ډیرشباهت ماته درلودلو او جبریل مې ډیر دحیه ته شبیه وموندلو». [1]

امام مسلم دغه حدیث په باب داسراءاومعراج کې راوړی دی ترڅو خلک دا ګومان ونکړی چې یواځې په خوب کې یې داسې څه لېدلی، بلکه په عالم وېښه داسراء اومعراج په سفرکې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته انبیاءعلیهم السلام عرضه شوې دې اوتفصیل یې داسراء اومعراج په حدیث کې راغلی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ژوند کې دجنت او دوزخ عرضه کیدل:

همدا رنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ژوندانه کې او وېښه سره دوزخ اوجنت عرضه شوی دی، او هغه څه چې په دوزخ اوجنت کې شتون درلود لېدلی دي.

په صحیحینو کې له انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت شوی ده چې وې ویل:

«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ حِينَ زَاغَتْ الشَّمْسُ فَصَلَّى الظُّهْرَ فَقَامَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَذَكَرَ السَّاعَةَ فَذَكَرَ أَنَّ فِيهَا أُمُورًا عِظَامًا ثُمَّ قَالَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَسْأَلَ عَنْ شَيْءٍ فَلْيَسْأَلْ فَلَا تَسْأَلُونِي عَنْ شَيْءٍ إِلَّا أَخْبَرْتُكُمْ مَا دُمْتُ فِي مَقَامِي هَذَا فَأَكْثَرَ النَّاسُ فِي الْبُكَاءِ وَأَكْثَرَ أَنْ يَقُولَ سَلُونِي فَقَامَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ حُذَافَةَ السَّهْمِيُّ فَقَالَ مَنْ أَبِي قَالَ أَبُوكَ

١- صحيح المسلم (١۶٧)، سنن ترمذی (٣۶۴٩)، مسند احمد (١۴۵٨٩)، صحيح ابن حبان (۶٢٣٢)

حُذَافَةُ ثُمَّ أَكْثَرَ أَنْ يَقُولَ سَلُونِي فَبَرَكَ عُمَرُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ فَقَالَ رَضِينَا بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا فَسَكَتَ ثُمَّ قَالَ عُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ آنِفًا فِي عُرْضِ هَذَا الْحَائِطِ فَلَمْ أَرَ كَالْخَيْرِ وَالشَّرِّ».

ترجمه: «یوه ورځ دلمرله زوال څخه روسته، رسول الله صلی الله علیه وسلم جومات ته تشریف راوړ اوماسپښنین لمونځ یې اقامه کړ. اوبیا منبرته پورته شو او دقیامت په اړه یې چې په هغه ورځ کې به ډیرې مهمې پیښې ترسره شي خبرې وکړې اووې فرمایل: هرڅوک چې پوښتنه لرې ود پوښتې. ترڅو چې دلته ناست یم دتاسو دټولو پوښتنو ته ځواب وایم. خلکو په شدت سره ژړلې او آنحضرت صلی الله علیه وسلم څوځلې وفرمایل: سؤال وکړې. په دغه وخت کې عبدالله بن حذافه پورته شو او وې پوښتل: زما پلارڅوک دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د تا پلار حذافه دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم دوباره وفرمایل: سؤال وکړې. هغه مهال، عمر ابن خطاب رضی الله په دوه زنګنونو کېناست اوعرض یې وکړ: الله د پروردګار، او اسلام د دین او محمد صلی الله علیه وسلم دپیغمبر په توګه قبلوو اوپرهغه خوشاله یو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له لېږ سکوت نه روسته وفرمایل: څو شېبې مخکې جنت او دوزخ په دغه دیوال باندې ماته عرضه (وړاندې) شول اوهېڅ کله مې خیراوشر داسې نه وولېدلی».[1]

او امام مسلم په بل روایت کې له انس رضی الله عنه څخه راوړې چې وې فرمایل: «بَلَغَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَصْحَابِهِ شَيْءٌ فَخَطَبَ فَقَالَ: عُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ، وَلَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا».

ژباړه: «رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داصحابو په اړه یې خبر را ورسید او ده په دې اړه خطبه وویله اوپه خطبه کې یې وفرمایل: جنت او دوزخ ماته وښودل شول اوهېڅ کله مې

۱- صحیح البخاری (۵۴۰) او لفظ دحدیث دهغه دی، صحیح مسلم ۱۳۶- (۲۳۵۹).

خير اوشر لکه دنن ورځې نه وو لېدلی او هغه څه باندې چې زه پوهېږم که تاسې پوهېدلی خنداګانې به مو لږ او ژړاګانې مو ډېرېدلی».[1]

اوپه مسند داحمد کې په صحيح روايت سره راغلی چې جنت او دوزخ دلمانځه پرمهال رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرضه شو: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ عُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ آنِفًا فِي عُرْضِ هَذَا الْحَائِطِ وَأَنَا أُصَلِّي، فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ».[2]

او په صحيح البخارى کې هم راغلی چې عرضه کېدل د دوزخ هغه وخت وو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دلمانځه په ادا کوولو باندې بوخت وو: «عُرِضَتْ عَلَيَّ النَّارُ وَأَنَا أُصَلِّي».[3]

ژباړه: «دلمانځه ادا کوولو پرمهال دوزخ راته عرضه شو».

امام مسلم رحمه الله په يوبل روايت کې له ابن عباس رضى الله عنهمانه نقل کړی چې فرمايلی دی: «انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ مَعَهُ، فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا قَدْرَ نَحْوِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا، ثُمَّ رَفَعَ، فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ، ثُمَّ سَجَدَ، ثُمَّ قَامَ قِيَامًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ، ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ، ثُمَّ سَجَدَ، ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدِ انْجَلَتِ الشَّمْسُ، فَقَالَ: إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ، لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ، وَلَا

١- صحيح مسلم ١٣٤- (٢٣٥٩).

٢- مسند احمد (١٢۶٥٩)، شعيب الأرنؤوط وايي: **اسنايې د شيخينو په شرط سره صحيح دی.** ادب المفرد (١١٨۴)، جامع معمر بن راشد (٢٠٧٩۶)، مسند الشاميين (١۶٩٨)، شرح السنة د البغوى (٣٧٢٠)،

٣- صحيح البخارى (۴٣١).

لِحَيَاتِهِ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذَلِكَ فَاذْكُرُوا اللهَ. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ رَأَيْنَاكَ تَنَاوَلْتَ شَيْئًا فِي مَقَامِكَ هَذَا، ثُمَّ رَأَيْنَاكَ كَفَفْتَ، فَقَالَ: إِنِّي رَأَيْتُ الْجَنَّةَ، فَتَنَاوَلْتُ مِنْهَا عُنْقُودًا، وَلَوْ أَخَذْتُهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا، وَرَأَيْتُ النَّارَ فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ مَنْظَرًا قَطُّ وَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ، قَالُوا: بِمَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: بِكُفْرِهِنَّ، قِيلَ: أَيَكْفُرْنَ بِاللهِ؟ قَالَ: بِكُفْرِ الْعَشِيرِ، وَبِكُفْرِ الْإِحْسَانِ، لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ، ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا، قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ».

ژباړه: «درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې لمر تندر نیولی و رسول الله صلی الله علیه وسلم له خلکو سره یوځای دکسوف لمونځ وکړ. قیام یې وکړ اوقیام یې دسورة بقرې دلوستلو په اندازه وږد کړ، بیایې رکوع وکړه اورکوع یې وږده کړه، اوبیایې سر له رکوع څخه راپورته کړ اوقیام یې طولانی کړ؛ اما له لومړی څخه لنډ وو. بیایې وږده رکوع وکړه اما له لومړي رکوع نه لنډه وه. اوبیا سجدې ته لاړ بیایی لمونځ تمام کړ اولمر تجلی وکړه. روسته له هغه نه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لمر اوسپوږمې دالله تعالی له نښانوڅخه دوه نښانی دی د دوې دواړو کسوف (تندر) دچا مرګ او ژوند پورې اړه نه لرې نوکله مو چې هغه ولیدلو الله یادکړې. وی ویل: ای رسول الله صلی الله علیه وسلم!ومولیدلی چې په خپله جایګاه کې دې څه خوړل اوبیا مو ولیدلی چې پرشاه لاړې چې ګواکې ویریدلی یې؟ وی فرمایل: جنت مې ولیدلو او دانګورو له وښکالو څخه مې یې وخوړل اوکه هغه مې لاس ته را وړی وی دعمر ترپایه مو له هغه نه خوړل. او جهنم مې ولیدو ترننه مې له هغه نه وحشتناکه منظره له دې څخه نه وه لیدلی. ډیری دوزخیانی مې ښځې ولیدلی. وی ویل: ولی ای رسول الله!؟وې فرمایل: دکفر له امله یې. وویل شول: آیا پرالله یې کفر کوولو؟ وی فرمایل: پرخاوند اونیکیانو باندې یې کفرکوولو. که ته چرته ټول عمر له هغې سره نیکې وکړی په محض دیو څه لیدلو څخه لتانه سم دلاسه وایې چې لتانه مې خیر ونه لیدلو». ۱

۱- صحیح مسلم ۱۷- (۹۰۷)، مسند احمد (۲۷۱۱)

دا احاديث شريف د دې ښکارندوېي کووې چې د دوزخ او جنت عرضه کيدل په عالم دوېښه کې دي نه په خوب کې. حتى که په خوب کې هم رسول الله صلى الله عليه وسلم ته کوم امور يا علوم هم عرضه شي نو دپيغمبرانو خوب حق دى. او په ادامه کې مو ځنى شيان چې په خوب کې پيغمبرانوته عرضه شوې دى هم بيان کړې.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دهولوشيانو اوهر هغه څه چې ترقيامته پورې کېږې په ژوند کې عرضه(وړاندې) کېدل:

امام البخارى رحمه الله له اسماء بنت ابى بكر رضى الله عنها نه روايت كړى چې ويلى دى: «أَتَيْتُ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ خَسَفَتِ الشَّمْسُ، فَإِذَا النَّاسُ قِيَامٌ يُصَلُّونَ، وَإِذَا هِيَ قَائِمَةٌ تُصَلِّي، فَقُلْتُ: مَا لِلنَّاسِ؟ فَأَشَارَتْ بِيَدِهَا نَحْوَ السَّمَاءِ، وَقَالَتْ: سُبْحَانَ اللَّهِ، فَقُلْتُ: آيَةٌ؟ فَأَشَارَتْ: أَيْ نَعَمْ، فَقُمْتُ حَتَّى تَجَلَّانِي الغَشْيُ، وَجَعَلْتُ أَصُبُّ فَوْقَ رَأْسِي مَاءً، فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: " مَا مِنْ شَيْءٍ كُنْتُ لَمْ أَرَهُ إِلَّا قَدْ رَأَيْتُهُ فِي مَقَامِي هَذَا، حَتَّى الجَنَّةَ وَالنَّارَ وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُونَ فِي القُبُورِ مِثْلَ - أَوْ قَرِيبَ مِنْ - فِتْنَةِ الدَّجَّالِ - لاَ أَدْرِي أَيَّ ذَلِكَ، قَالَتْ: أَسْمَاءُ - يُؤْتَى أَحَدُكُمْ، فَيُقَالُ لَهُ: مَا عِلْمُكَ بِهَذَا الرَّجُلِ؟ فَأَمَّا المُؤْمِنُ أَوِ المُوقِنُ - لاَ أَدْرِي أَيَّ ذَلِكَ قَالَتْ: أَسْمَاءُ - فَيَقُولُ: هُوَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، جَاءَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَالهُدَى، فَأَجَبْنَا وَآمَنَّا وَاتَّبَعْنَا، فَيُقَالُ لَهُ: نَمْ صَالِحًا، فَقَدْ عَلِمْنَا إِنْ كُنْتَ لَمُؤْمِنًا، وَأَمَّا المُنَافِقُ أَوِ المُرْتَابُ - لاَ أَدْرِي أَيَّ ذَلِكَ قَالَتْ أَسْمَاءُ - فَيَقُولُ: لاَ أَدْرِي، سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ شَيْئًا فَقُلْتُهُ».

ژباړه: «د رسول الله صلى الله عليه وسلم مېرمنې عايشې رضى الله عنها خواته ورغلم چې هغه مهال خسوف (لمر تندر نيولى وو) خلک ولاړ وولمونځ يې ادا کوولو هغې ته مې وويل خلکوباندې څه شوي؟ هغې پرلاس باندې آسمان ته اشاره وکړه اووى فرمايل سبحان الله. ومې ويل آيا نښانه ده؟وى ويل هوکې. زه هم په لمانځه ودريدم تردې چې بيهوښې پرماباندې

عارضه شوه ماهم پرسربانديِ مې اوبه واچولی. اوکله چې رسول الله له لمانځه نه فارغ شو دالله شکر اوستاینه يې وکړه اوبیايې وفرمایل: هیڅ شی نه وو چې هغه مې نه وې لېدلی مګر داچې اوس مې په همدغه خپل ځای کې ولیدل حتی جنت اودوزخ مې ولیدل. ماته وحی وشوه چې تاسې په قبرونوکې لکه یا نژدی د دجال فتنی ته ورته آزمایل کېږې. ملایکی کبرونوکې دتاسې هر یوه خواته درځي او وایې د دې کس په اړه څه پوهېږې؟مؤمن یا موقین وايي: هغه محمد رسول الله دی چې دصدق او هدایت په دلایلو سره مونږ ته راغلی. دهغه خبری موومنلی اوپرهغه موایمان راوړولو اوله هغه نه مو پیروي وکړه. هغه ته ویلی کېږې آرام ویده شه یقینا پوه شو چې ته مؤمن وې. اما منافق یا مرتاب وایې: نه پوهېږم، اوریدلی مې دی چې خلکو څه ویلو ماهم هغه ویل».[1]

او امام مسلم پردغو الفاظو سره له جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت کړی دی:
«إِنَّهُ عُرِضَ عَلَيَّ كُلُّ شَيْءٍ تُولَجُونَهُ، فَعُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ، حَتَّى لَوْ تَنَاوَلْتُ مِنْهَا قِطْفًا أَخَذْتُهُ - أَوْ قَالَ: تَنَاوَلْتُ مِنْهَا قِطْفًا - فَقَصُرَتْ يَدِي عَنْهُ، وَعُرِضَتْ عَلَيَّ النَّارُ، فَرَأَيْتُ فِيهَا امْرَأَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ تُعَذَّبُ فِي هِرَّةٍ لَهَا، رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا، وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ».

ژباړه: «بیشکه هرهغه څه چې پرتاسو داخلیږې(راځي) پرما باندې عرضه (وړاندې) کېږې. جنت ماته وړاندې (عرضه)شو ترهغه چې که مې غوښتلی کولی مې شو چې وښکالی را واخلم او وې خورم. یا یې وویل: له هغه نه مې وښکالی وخوړ اما لاس مې له هغه نه را وګرځولو. اوجهنم پرماباندې عرضه شول اوپه هغه کې مې یهودی ښځه ولیدله چې دیوې پیشو په واسطې سره عذاب ورکول کیدلوځکه پیشو یې تړلی وه او خواړه یې نه ورکول اوپشو یې خوشې کړې نه وه ترڅو دزمکې له حیواناتو او الوتونکو څخه یې وخورې. ».[2]

۱- صحیح البخاری (۱۸۴-۱۰۵۳)، موطأ مالک (۴)، صحیح ابن حبان (۳۱۱۴)، معجم الکبیر د الطبرانی (۳۱۳)، شرح السنة د البغوی (۱۱۳۷).

۲- صحیح مسلم ۹- (۹۰۴)، مسند احمد (۱۵۰۱۸)، صحیح ابن خزیمه (۱۳۸۰).

همدارنګه امام مسلم په یوبل روایت کې له اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها نه په همدې الفاظو هغه روایت کړی دی: «مَا مِنْ شَيْءٍ لَمْ أَكُنْ رَأَيْتُهُ إِلَّا قَدْ رَأَيْتُهُ فِي مَقَامِي هَذَا، حَتَّى الْجَنَّةَ وَالنَّارَ».

ژباړه: «هیڅ څه نه وو چې هغه مې نه وې لیدلی مګر دا چې هغه مې په همدغه خپله جایګاه ولیدل حتی جنت او جهنم مې هم ولیدل».[1]

امام احمد او نورو، له ابو بکر رضی الله عنه نه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «نَعَمْ عُرِضَ عَلَيَّ مَا هُوَ كَائِنٌ مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا، وَأَمْرِ الْآخِرَةِ».

ژباړه: «هوکې!، هرهغه څه چې د دنیا او هغه چې دآخرت امر وو ماته عرضه (وړاندې) کړل شو».[2]

همدارنګه ټوله زمکه له ختیز او لویدیز څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وښودل شوه په داسې حال کې چې په خپل ځای کې ناست ؤ لکه څنګه چې امام مسلم له ثوبان رضی الله عنه نه روایت کړی چې فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «إِنَّ اللهَ زَوَى لِي الْأَرْضَ، فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا، وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا، وَأُعْطِيتُ الْكَنْزَيْنِ الْأَحْمَرَ وَالْأَبْيَضَ، وَإِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي أَنْ لَا يُهْلِكَهَا بِسَنَةٍ عَامَّةٍ، وَأَنْ لَا يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ، فَيَسْتَبِيحَ بَيْضَتَهُمْ، وَإِنَّ رَبِّي قَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِنِّي إِذَا قَضَيْتُ قَضَاءً فَإِنَّهُ لَا يُرَدُّ، وَإِنِّي أَعْطَيْتُكَ لِأُمَّتِكَ أَنْ لَا أُهْلِكَهُمْ بِسَنَةٍ عَامَّةٍ، وَأَنْ لَا أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ، يَسْتَبِيحُ بَيْضَتَهُمْ، وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ

۱- صحیح مسلم ۱۱- (۹۰۵)، مسند احمد (۲۶۹۲۵)، المعج الکبیر د الطبرانی (۳۱۴)، مستخرج أبي عوانه (۳۹۵).

۲- مسند احمد (۱۵)، شعیب الأرنؤوط می‌گوید: اسنادش حسن است. السنة د ابن ابی عاصم (۸۱۲)، مسند البزار (۷۶)، مسند أبي یعلی (۵۶)، صحیح ابن حبان (۶۴۷۶).

بِأَقْطَارِهَا - أَوْ قَالَ مَنْ بَيْنَ أَقْطَارِهَا - حَتَّى يَكُونَ بَعْضُهُمْ يُهْلِكُ بَعْضًا، وَيَسْبِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا».

ژباړه: «الله جل جلاله زمکه زما لپاره را غونډه کړه اوما یې مشرقونه اومغربونه ولیدل اوبې له شکه زما دامت ملک هغو ځایونوته رسیږي چې زما لپاره جمع شوې اوماته وښودل شوه اودارنگه دوه سپین اوسره گنجونه راته عطا شول. ما مې له پروردگارڅخه وغوښتل چې امت مې دعمومې وچ کالي او قحطي په اثر هلاک نکړې اوپرهغو باندې دښمن بغیر له خپلو مسلط نکړې چې بنستې وېستل یې دځان لپاره حلال اومباح وبلی. پروردگارمې په ځواب کې وفرمایل: ای محمده!هرکله چې زه تصمیم ونېسم هېڅوک هغه نشی را گرځولی اوما ستا غوښتنه دامت دهلاکیدلو دقحطي او دبیگانه گانو دعمدم تسلط په خاطر چې دهغو بنیاد له مینځه یوسی ومنله . حتی که دزمکې ټول خلک داسلامې امت پرخلاف سره متفق شي نشی کولی چې هغه له مینځه یوسی، البته دغه ضمانت ترهغه وخته دی چې امت له یوبل سره اخته نشی او یوبل اسیرنکړی». [1]

امام القرطبي رحمه الله په المفهم کې فرمایی: «قوله: {إن الله زوى لي الأرض حتى رأيتُ مشارقها ومغاربها}، أي: جمعها لي حتى أبصرتُ ما تملكه أمتي من أقصى المشارق والمغارب منها، وظاهرُ هذا اللفظ يقتضي أنَ الله تعالى قوّى إدراكَ بصرِه، ورفع عنه الموانع المعتادة، فأدرك البعيدَ من موضعه، كما أدرك بيتَ المقدس من مكة وأخذ يُخْبِرهم عن آياته، وهو ينظرُ إليه، وكما قال: {إني لأُبصِر قَصْر المدائن الأبيض}، ويُحتمل أن يكون مثَّلها اللهُ له، فرآها، والأولُ أولى».

ژباړه: «او داخبره یې: {الله پاک زمکه زما لپاره را غونډه کړه ما یې مشرقونه اومغربونه ولیدل} یعنی: هغه یې زما لپاره را غونډه کړه تر دی چې هغه برخې دمشرق اومغرب کې

۱- صحيح مسلم ۱۹- (۲۸۸۹)، مسند احمد (۲۲۴۵۲)، سنن أبي داود (۴۲۵۲)، سنن الترمذی (۲۱۷۶).

چې امت مې په خپل ملکيت کې راولی وليدله، او ظاهر د دې حديث داسې اقتضاء کووې چې الله تبارک وتعالی يې دسترګو ادراک قووی کړی اوعادی موانع يې ترې لرې کړی وی داسې چې په خپل ځای کې يې ليرې برخې ليدلی دي؛ هغسې چې له مکې نه يې بيت المقدس وليدلو په داسې حال کې چې (بيت المقدس) ته يې کتلو، دهغه ځای له نښانونه يې هغوی(مشرکانو) ته خبر ورکړ اوهمدا رنګه فرمايلی دي: {په تحقيق سره زه دمدائن سپين قصرونه دادی وينم} او دا احتمال لرې چې الله پاک هغه ورته په تمثيل کښلی اوهغه يې ليدلی وي. مګر لومړی قول، درست‌تر دی».[١]

او نعيم بن حماد له ابن عمر رضی الله عنهمانه روايت کړی فرمايلی دی: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «إِنَّ اللَّهَ رَفَعَ لِي الدُّنْيَا فَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا هُوَ كَائِنٌ فِيهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ كَمَا أَنْظُرُ إِلَى كَفِّي هَذِهِ، جِلِيَّانٌ مِنَ اللَّهِ جَلَّاهُ لِنَبِيِّهِ كَمَا جَلَا لِلنَّبِيِّينَ قَبْلَهُ»

ژباړه: «الله پاک دنياه زما لپاره پورته راوړله ما هغه او هغه څه چې دقيامت تر ورځې پورې به پکې وې وکتل په هغه شکل سره چې دلاسونو ورغوې ته مې ګورم. تجلی او کشف دالله له لوری دی چې دخپل رسول لپاره يې کشف کړلو څه رنګه يې چې خپلو مخکنيو پيغمبرانوته کشف کړلو». الفتن د نعيم بن حماد د دی حديث له صحت څخه آګاهی نلرم اما دمخکنيو رواياتو مطابق کيديشی چې صحيح وې او دی ته ورته الله پاک ابراهيم عليه سلام ته دآسمانونو اوزمکې ملکوت ور وښودلی دی.

څه رنګه چې الله تعالی فرمايې: ﴿وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلۡمُوقِنِينَ٧٥﴾ [الأنعام: ٧٥]

«و اين چنين، ملکوت آسمان‌ها و زمين را به ابراهيم نشان داديم، تا از يقين کنندګان باشد».

١- المفهم لما اشكل من تلخيص شرح صحيح مسلم، ج ٧ ص ٢١٦.

امام البغوی رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې فرمايي: «{كذلك نريه، مَلَكُوتَ السَّماوَاتِ وَالْأَرْضِ}، وَالْمَلَكُوتُ الْمُلْكُ زِيدَتْ فِيهِ التَّاءُ لِلْمُبَالَغَةِ كَالْجَبَرُوتِ وَالرَّحَمُوتِ وَالرَّهَبُوتِ، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: يَعْنِي خَلْقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ، وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَسَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ: يَعْنِي آيَاتِ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، وَذَلِكَ أَنَّهُ أُقِيمَ عَلَى صخرة وكشف له عن ملكوت السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ حَتَّى الْعَرْشِ وَأَسْفَلَ الْأَرَضِينَ وَنَظَرَ إِلَى مَكَانِهِ فِي الْجَنَّةِ، فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: وَآتَيْنَاهُ أَجْرَهُ فِي الدُّنْيا [العنكبوت: ۲۷]، يَعْنِي: أَرَيْنَاهُ مَكَانَهُ فِي الْجَنَّةِ».

ژباړه: «{دارنګه، دآسمانونو اوزمکې ملکوت مو ابراهیم ته ور وښودل} ملکوت، هم هغه ملکې دې چې تا يې دمبالغې لپاره ورزیاته شوی ده، لکه

جبروت رحموت او رهبوت. ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي: منظور له ملکوت، څخه دزمکې او آسمانونو پیدا کیدل دی. مجاهد او سعید بن جبیر رحمهما الله فرمايي: ملکوت یعنی دزمکې او آسمانونو نښانې. او هغه داسې چې ابراهیم علیه سلام پر یوه غټه ډبره باندې ولاړ دزمکې او آسمانونو ملکوت دهغه لپاره کشف شو، حتی چې عرش او دزمکې لاندنی طبقه، او له همغه خپل ځای څخه يې جنت ته وکتل، اودالله پا ک دا فرموده دهغه په اړه دی چې فرمايي: {دهغه بدله موږه دنیا کې هغه (ابراهیم) ته ورکړه} یعنی: مکان مو ورته په جنت کې وښودلو». [1]

اوس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وروسته له وفاته نه دامت داعمالو دعرضه کیدلو حدیث دارنګه دجنت او دوزخ د عرضه کیدلو له حدیث سره

او له حدیث دعرضه کیدلو دامتونو له اعمالو سره يې اوله حدیث دعرضه کیدلو دهرڅه اوتړول هغه څه چې ترقیامته ترسره کیږي سره پرتله کړي، او وواي چې کوم یویې ستردی؟ اوکوم کسان چې رسول الله ته دامت داعمالو دعرضه کیدلو حدیث له وفات نه يې روسته ضعیف، خرافات اودرسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کې غلو ګڼي باید پوه شي چې په

۱- تفسیر البغوی، ج ۲ ص ۱۳۶.

حيات کې يې په مراتبو زيات رسول الله ته عرضه شوي دي. او دغو خلکو لکه څنګه چې درسول الله صلى الله عليه وسلم عظمت د پېژندلو دی هغسې يې نه دی پېژندلی

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دامت دځينو افرادو عرضه کيدل په خوب کې:

همدا شان رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په خوب کې دامت دافرادو څخه ځني کسان عرضه شوی دي. لکه څنګه چې په صحيحينو کې راغلی چې اسحاق بن عبد الله بن ابی طلحه له انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت کړی چې هغه (انس) فرمايلی دي: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ عَلَى أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ فَتُطْعِمُهُ - وَكَانَتْ أُمُّ حَرَامٍ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ - فَدَخَلَ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَطْعَمَتْهُ وَجَعَلَتْ تَفْلِي رَأْسَهُ، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: وَمَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ، يَرْكَبُونَ ثَبَجَ هَذَا البَحْرِ مُلُوكًا عَلَى الأَسِرَّةِ، أَوْ: مِثْلَ المُلُوكِ عَلَى الأَسِرَّةِ "، شَكَّ إِسْحَاقُ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، فَدَعَا لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ».

ژباړه: «رسول الله صلى الله عليه وسلم به د أم حرام بنت ملحان خواته ورتللو او هغې به ورته خواړه راوړل. او أم حرام د عباده بن صامت ميرمن وه. رسول الله دهغې خواته ورغی اوهغې رسول الله ته خواړه راوړل اوبيا درسول الله دوېښتانو په پاک ولو باندې لګيا شوه . رسول الله صلى الله عليه وسلم هلته ويده شو اوچې کله را وېښ شو خندل يې أم حرام وايي: ومې ويلی ای دالله رسوله! ولی خاندې؟ رسول الله وفرمايل: زماله مت نه خلک راته عرضه (وړاندې) شول چې دالله په لاره کې جنګيدل او د دغه سيند په مينځ کې په کښتيو سپاره وو، هغوي پاچايان وو چې په تختونو ناست وو يا دهغو پاچايانو په څير چې پرتختونو ناست

وي، راوی اسحاق شک کړی دی. أم حرام و ویل: وه مې ويل ای دالله رسوله! له الله تعالی څخه وغواړه چې ما هم دهغو له ډلی وګرځوي. رسول الله هم هغې ته دعا وکړه».[1]

همدارنګه په صحيحينوکې له ابو سعيد الخدری رضی الله عنه نه روايت شوی دی چې فرمايل يې: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «بَيْنَمَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ عَلَيَّ وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ، وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ دُونَ ذَلِكَ. وَمَرَّ عَلَيَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ يَجُرُّهُ. قَالُوا: مَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: الدِّينَ».

ژباړه: «په داسې حالکې چې ويده وم خلک راته عرضه (وړاندې) کېږې او پرتن باندې جامې لرې؛چې ځنې دهغو جامو څخه ترسينی پورې رسېږې او بعضې يې له هغه نه کښته پورې رسېږې اوعمربن الخطاب رضی الله عنه پرماباندې (وړاندې)تېر شو اودهغه پرتن باندې جامې وې چې هغه يې پرزمکه راکښلی او وی ویل چې دالله رسوله داخوب څه رنګه تعبېروې؟وې فرمايل: په دين سره». [2]

رسول الله صلی الله عليه وسلم به په لمانځه کې خپله شاه ليدله:

همدا رنګه الله پاک چې خپل غوره کړی شوی بنده ته بله ځانګړنه ورکړی وه هغه دا وه چې درسول الله صلی الله عليه وسلم بينايي زمونږ له بينايي څخه ډېره وه چې کوولی يې شو دالله په اذن سره ملائيکی ووېنی همدا شان کولی يې شول دالله په اذن سره خپله شا وېنی اوکولی يې شول دالله په اذن سره لېری ځايونه ووېنی.

امام البخاری له ابو هريره رضی الله عنه نه روايت کړی چې فرمايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «هَلْ تَرَوْنَ قِبْلَتِي هَا هُنَا، فَوَاللَّهِ مَا يَخْفَى عَلَيَّ خُشُوعُكُمْ وَلاَ رُكُوعُكُمْ، إِنِّي لأَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي».

۱- صحيح البخاری (۲۷۸۸)، صحيح مسلم ۱۶۰- (۱۹۱۲)

۲- صحيح البخاری (۷۰۰۸)، صحيح مسلم ۱۵- (۲۳۹۰)، سنن النسائی (۵۰۲۶)، صحيح ابن حبان (۶۸۹۰).

ژباړه: «آياتاسې دافکرکووې چې بغير له دې جهت (= دمخ پرقبلې له جهت) نه وينم؟ پرالله قسم چې دتاسو خشوع اورکوع له ماخخه پټه نه ده زه (دلمانځه)پرمهال تاسې ترشاه وينم».[1]

او امام مسلم له انس رضى الله عنه نه روايت کړى فرمايي چې: «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ، فَقَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ، إِنِّي إِمَامُكُمْ، فَلَا تَسْبِقُونِي بِالرُّكُوعِ وَلَا بِالسُّجُودِ، وَلَا بِالْقِيَامِ وَلَا بِالِانْصِرَافِ، فَإِنِّي أَرَاكُمْ أَمَامِي وَمِنْ خَلْفِي ثُمَّ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْ رَأَيْتُمْ مَا رَأَيْتُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا. قَالُوا: وَمَا رَأَيْتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: رَأَيْتُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ».

ژباړه: «يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم له مونږ سره لمونځ ادا کړ اوکله چې لمونځ پاى ته ورسيد مونږ ته يې مخ کړ او وى فرمايل: اى خلکو زه دتاسو امام يم، نو په رکوع، سجده، قيام او دلمانځه په اتمام کې له ماخخه سبقت مکووې بيشکه زه تاسى له وړاندې او روسته نه وينم اوبيايى وفرمايل: په الله پرهغه چاباندې چې دمحمد روح دهغه په قبضه کې دى که چرته کوم څه چې ماليدلى که تاسې ليدلى وى لېږ به موخندل اوژړا به مو ډېره کوله. ووېل شول: اى رسول الله! تاسو څه وليدل؟ وى فرمايل: جنت اودوزخ مې وليدل». [2]

او داشان رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل ځاى کې ناست وو چې بيت المقدس ورته عرضه شو داسې چې له ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دى چې ويل يې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «لَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي الْحِجْرِ وَقُرَيْشٌ تَسْأَلُنِي عَنْ مَسْرَايَ، فَسَأَلَتْنِي

۱- صحيح البخارى (۴۱۸، ۷۴۱)، صحيح مسلم ۱۰۹- (۴۲۴)، مسند احمد (۸۰۲۴)، مسند ابى يعلى الموصلى (۶۳۳۵)،

۲- صحيح مسلم ۱۱۲- (۴۲۶)،

عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ بَيْتِ الْمَقْدِسِ لَمْ أُثْبِتْهَا، فَكُرِبْتُ كُرْبَةً مَا كُرِبْتُ مِثْلَهُ قَطُّ، قَالَ: فَرَفَعَهُ اللَّهُ لِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ، مَا يَسْأَلُونِي عَنْ شَيْءٍ إِلَّا أَنْبَأْتُهُمْ بِهِ».

ژباړه: «په خپل کورکې وم چې قريشيانو دمعراج په شپه کې دبيت المقدس په اړه له ماڅخه څه شيان وپوښتل چې هغه مې خاطرکې نه وو له همدې امله ډير غمجن شوم داسې چې هيڅ کله دارنګه خپګان ماته نه وو را پيښ شوی.

په دې وخت کې الله پاک بيت المقدس مې دسترګو پروړاندې مجسم کړ اوله هرڅه نه يې چې وپوښتل ځواب مې ورکړ».[1]

نو څه اشکال يا مانع دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دامت اعمال له وفات نه يې روسته عرضه شي؟ولی دغسی روايات خرافات غلو او جعلی روايات درواغو بلی؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دصلاة او سلام عرضه کيدل.

ښايې يوڅوک ووايې چې مخکې تيرشوی احادث درسول الله صلی الله دحيات په موده پورې اړه لرې اما روسته له حيات نه په عالم برزخ کې پر ميت باندې څه نه عرضه کيږې. دی خلکوته په ځواب کې وايو: زمونږ دصلاة اوسلام عرضه کيدل رسول الله صلی الله عليه وسلم ته روسته له وفات څخه له هغو حقايقو څخه دی چې ټول مسلمانان پرهغه باندې اجماع لرې اوسلام هم زمونږ داعمالو له جز څخه دی نو ثابتيږې چې درسول الله صلی الله عليه وسلم دوفات نه روسته دامت سلام چې يوډول دعمل دی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته عرضه کيږي. څه رنګه چې اوس بن ابی اوس رضی الله عنه له پيامبر صلی الله عليه وسلم نه روايت کووې چې وی فرمايل: «إِنَّ مِنْ أَفْضَلِ أَيَّامِكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ قُبِضَ، وَفِيهِ النَّفْخَةُ، وَفِيهِ الصَّعْقَةُ، فَأَكْثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيهِ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوضَةٌ عَلَيَّ قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَكَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ أَرِمْتَ - يَقُولُونَ: بَلِيتَ -؟ فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ». ژباړه:

١- صحيح مسلم ٢٧٨- (١٧٢).

«غوره ورځې دتاسې دجمعې ورځې دی، په هغه ورځ کې الله پاک آدم علیه السلام پیدا کړ، او دجمعې په ورځ یې وفات شو او دجمعې په ورځ پرښته په سور(شپېلي) کې پوه کووې اوپه دغه ورځ کې صعقه (یعنی: دټولو انسانانو مړه کېدل) به وي نو په دغه ورځ کې پرما باندې ډېر درود او صلواة ووایې ځکه چې ستاسو درود اوصلواة به ماته عرضه شي، وویل شول: څه رنګه زمونږ درود او صلواة پرتاباندې عرضه کېږې په داسې حال کې چې ستا بدن خرابیږی، او وایی په خاورو بدل شوی. رسول الله وفرمایل: الله پاک پرزمکه باندې حرام کړی چې دانبیاؤ جسدونه له مینځه یوسی».[1]

او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه له رسول الله نه روایت کړی فرمایی چې: «إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ فِي الْأَرْضِ يُبَلِّغُونِي عَنْ أُمَّتِي السَّلَامَ».

ژباړه: «بیشکه الله پرښتې لرې چې په زمکه کې ګرځې او دامت سلام مې ماته را رسوي».[2]

نو سلام استول زمونږه رسول الله صلی الله علیه وسلم، ته زمونږ داعمالو برخه ګڼل کېږې کله چې زمونږ سلام پیغمبرته وړاندې کېږې په حقیقت زمونږ عمل دی چې رسول الله ته وړاندی شوی دی اوپه حقیقت کې رسول الله ته داعمالو دعرضه کیدلو حدیث مو له وفاته بعد منلی دی!

متوفاته دځای عرضهٔ کیدل.

١- ابو داود (١٠٤٧)، ابن خزیمه ابن خزیمه په خپل تفسیرکې، ج ٦ ص ٤٦٣ وایې صحیح دی. حاکم په مستدرک، ج ٥ ص ٧٧٦ فرمایې دشیخینو دشرط مطابق صحیح دی.

٢- صحیح ابن حبان (٩١٤)، مصنف ابن ابی شیبه (٢٦٩)، سنن دارمی (٢٨١٦)، المستدرک علی الصحیحین (٣٥٧٦) وایې صحیح دی اوامام الذهبی هم ورسره موافقت کړی دی. السلسلة الصحیحة د الألبانی (٢٨٥٣).

دغسی عرضه کیدل یواځې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مختص نه دی بلکه مونږ هریوه ته کله چې وفات شو مقام یې په جنت یا دوزخ کې ورښول کیږي، لکه څنګه چې امام البخاري رحمه الله له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړی ویلی دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ فَإِنَّهُ يُعْرَضُ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ فَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ».
ژباړه: «هرکله، چې یو لتاسونه وفات شي، سهار او ماښام جایګاه یې هغه ته ورښودل کیږي، که جنتی وې جایګاه یې په جنت کې اوکه دوزخی وي جایګاه یې په دوزخ کې هغه ته ښودل کیږي».[1]

او په یوبل روایت کې وایی: «إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ، إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ، فَيُقَالُ: هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ».
ژباړه: «کله چې یو لتاسو نه مړ شي جایګاه یې سهار او ماښام هغه ته ورښودل کیږي، که له اهل دجنت وې نو داهل جنتو جایګاه ورته ښودل کیږي اوکه اهل جهنم وې داهل جهنمو جایګاه ورته عرضه کیږي او هغه ته ویل کیږي: دا دتا ځای دی ترڅو دچې الله تعالی دقیامت پر ورځ راپورته کړي».[2]

نو اوس ولی چې یوه مړی ته په عالم دبرزخ کې هغه ته یې مقام په جنت یادوزخ کې وښودل شي داسې څه ممکین دی اما پر رسول الله چې دالله پاک غوره مخلوق دی، که دامت اعمال یې ورته عرضه شي او بدیو لپاره یې استغفار وکړي او دنیکیانو لپاره یې دالله حمد وایی داسې یو څه ناممکین غلو او خرافات وې؟

۱۳۹۷/آذر/۳

۱- صحیح البخاری (۳۲۴۰)

۲- صحیح البخاری (۱۳۷۹)

دمؤلف مقدمه.

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف المرسلين سيدنا محمد وعلى آله الأكرمين والرضى عن صحابته الطاهرين، اما بعد:

داکتاب یو جزوه ده چې د: «حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ» دحدیث په توضیح اوصحت کې مې راجمع کړی کله مې چې د دی موضوع په اړه دډیرو خلکو اختلافات ولیدل او داچې د دی موضوع په اړه یی پرته له علم کومی قاعدی او بنسټ څخه خبری کولی د دی لامل شو چې دغه جزوه ولیکم، تردی حده چې ځنی ناپوهانو داګومان کووی چې دا حدیث یوجعلی حدیث دی داحادیثو دذخایرو په هیڅ کتاب کې نشته! اودنورو صحیحو اوقوی احادیثومخالف دی

او که چیرته دغه حدیث څوک په یوه کتاب یا یوه مجله کې راوړی، په ډیرو تندو اسلوبونو اوشتم سره یی تخریب وی. له همدی امله په دغه جزوه کې غواړم د دغو ادعاو اوخبرو اشتباه والی بیان کړم. اوهغه ګمراهی چې د دوی پرفهم باندی بناء دی څرګند کړم، کوم څه مې چې راوړی پرهغو کې مې داهل حدیثو پرقواعدو او اصولو تیکه کړی اوکو م چې جمهورو اهل منقول اومعقولو راجح ګڼلی پرهغه مې استناد کړی او دا جزوه مې په نامه د «نهاية الآمال في صحة حديث عرض الأعمال» باندی نومولی او دا جناب رسول اکرم عليه أفضل الصلاة والتسليم ته هدیه اووړاندی کووم؛په دی هیله چې دقیامت پر ورځ یی په شفاعت کې شامل شم، هغه ورځ چې پرته له هغه نه هیڅوک په شفاعت کې وړاندی والی نشی کولی حتی نه ابراهیم خلیل او نه موسی کلیم.

له الله پاک څخه هیله مند یم چې هیلی مو رېښتنی او دعا مو قبوله کړی ځکه چې هغه قریب اومجیب دی، اوپرته له هغه نه هیڅ رب شتون نلري او دهغه له خیر نه پرته بل هڅ خیر نشته.

باب دی: په بیان دصحت دحدیث او دطروق و په ذکرکې.

حافظ کبیر، ابو بکر احمد بن عمرو بن عبد الخالق البصری مشهور په البزار چې په کال ۲۹۲ په رمله کې وفات شوی په خپل مشهوره مسند کې فرمايي:

يوسف بن موسى له عبد المجيد ابن عبد العزيز بن أبی رواد له سفيان له عبد الله بن السائب له زاذان له عبد الله ابن مسعودنه روایت کړی چې: رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل: «إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ يُبَلِّغُونِي عَنْ أُمَّتِي السَّلَامَ»؛ «بیشکه الله پاک ملائکی لرې چې په زمکه کې ګرځي او دامت سلا م مې ماته ابلاغ (رارسوی)». فرمایي: رسوالله ﷺ و فرمایل: «حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ تُحَدِّثُونَ وَيُحَدَّثُ لَكُمْ، وَوَفَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ تُعْرَضُ عَلَيَّ أَعْمَالُكُمْ فَمَا رَأَيْتُ مِنَ خَيْرٍ حَمِدْتُ اللَّهَ عَلَيْهِ، وَمَا رَأَيْتُ مِنَ شَرٍّ اسْتَغْفَرْتُ اللَّهَ لَكُمْ»؛ «زما حیات دتاسی لپاره خیردی، (ځکه) خبری کووي اوخبرې درته کیږی، اوزما وفات دتاسی لپاره خیردی (ځکه) اعمال مو راته عرضه (وړاندې) کیږی داچې دخیر اعمال مو وګورم دالله حمد وایم او کوم چې دشر (اعمال) وګورم پرهغه له الله څخه درته مغفرت غواړم».

البزار فرمایي: «خبر نلرم چې له عبدالله بن مسعود نه د داحدیث روایت شوی وی مګر په دی اسنادو سره»[1] اه.

۱- مسند البزار، ج ۵ ص ۳۴۲ - کشف الأستار د امام الهیثمی، ج ۱ ص ۳۹۷.

حافظ زين الدين العراقى له كتاب د (طرح التثريب في شرح التقريب) [1] دالجنائز په برخه كې فرمايي: «اسناديى جيد دي»[2]. اه

او حافظ نور الدين الهيثمى په مجمع الزوائد كې فرمايي: «داسنادو رجال يى صحيح رجال دى»[3]. اه

او دارنګه القسطلانى په شرح دالبخارى[4]، او حافظ جلال الدين السيوطى په الخصائص الكبرى كې وايى[5]: «اسناديى صحيح دى».

۱- دا كتاب دعلامه عراقى دكتابونو روستى كتاب دى مخكې له دينه چې هغه داكتاب تمام كړى وفات شو اوزوى يى حافظ ولى الدين ابو زرعه العراقى هغه كتاب تمام كړ. نو هغه څه يى چې په دى كتاب كې ويلى پرهغه خبره باندى چې د «الأحياء علوم الدين» داحاديثو په تخريج كې كړى چې د ده دفعاليت ړومبى شيبى وې او په دى وخت كې يى عمر شلو كالو ته رسيده ارجح دى، يعنى هغه وخت چې دمحفوظاتو دايره يى نه وه ډيره شوى داحاديثو په قواعدو كې ډير نه وو وارد شوى. دغې موضوع د ده دى كتاب او نورو مؤلفاتو سره په موازينه كې چې روسته يى ليكلى ښه متوجه كيږو، ځكه روستى تألفات يى دپراخه اطلاعاتو اوحيراونكى حفظ د دى فن پر اصولو او قواعدو دهغه ښكارندويى كووى له همدى امله په علم حديث كې داجتهاد رتبى ته رسيدلى وو.

دا كوم څه مو چې وويل پرهغو د دلايلوله جملى څخه دادى چې هغه دالأحياء، داحاديثو په تخريج كې دابن عمر حديث چې په هغه كې راغلى: «أُحِلَّتْ لَنَا مَيْتَتَانِ وَدَمَانِ» صحيحينو (بخارى او مسلم) ته يى منسوب كړى په داسى حال كې چې داحديث ضعيف دى له سته وكتابونو څه يواځې ابن ماجه هغه روايت كړى دى. [مؤلف]

۲- ج ۳ ص ۲۹۷.

۳- ج ۹ ص ۲۴.

۴- ج ۲ ص ۴۴۰.

۵- ج ۲ ص ۲۸۱.

او علی القاری او الشهاب الخفاجی د «الشفاء»[1] دقاضی عیاض رحمه الله د شرحو په لومړیو کې همدا راز ویلی دی.

اوکوم حکم چې دوی پردی حدیث باندی کړی صحیح دی اوکوم مشکل پکې شتون نلري؛پردی چې دسند ټول رجال ثقه او پرشرط صحیح دی او داچې ابی رواد متهم په ارجا سره شوی دحدیث پرسند باندی کوم اثر نلري؛ هغه هم روسته له دی نه چې د دین ایمه کبارو لکه شافعی احمد ابن معین ابوداود او نسائی یی پرثقه اواعتماد والی باندی تصریح کړی ده مسلم[2] او اربعه (ترمذی، ابوداود نسایي او ابن ماجه) پر هغه باندی احتجاج کړی، نو که څوک روسته له دی هغه ضعیف وبلی هغه ته پام نکیږی؛مخصوصا ابن حبان چې په جرح کې زیاده روی کووی. امام الذهبی په المیزان کې[3]، د افلح بن سعید المدنی په ترجمه کې وایي: «ګواکې د ابن حبان ګیډه دثقاتو په نسبت سره درد کووی، داسی چې نه پوهیږی څه خبری یی له سره راوځي». اه. او د ایوب بن عبد السلام په ترجمه کې فرمایي: «ابن حبان صابح تشنیع (ډیر بدویل لچانه) او تشغیب (دفتنی بدي اوتباهي را زیږ ول) دی». [4] اه.

نو حدیث په دی طریق سره په شرط د مسلم دی.

اونور طرق هم لری له هغې جملی نه:

۱- شرح الشفاء د ملا علی القاری ج ۱ ص ۸۵ - نسیم الریاض د الحفاجی ج ۱ ص ۱۰۲.

۲- کله چې شیخان (بخاری اومسلم) پریوه حدیث باندی احتجاج وکړی لکه څنګه چې امام ذهبی رحمه الله فرمایي : [خرش] له پل څخه تیر شوی دی. او دشیخینو پرډیرو راویانو باندی طعن وارد شوی دی حتی چې ځنی یی په درواغو باندی متهم دی ،مګر علماء دغو طعنو ته پام نه دی کړیشای په دی خاطر وی چې د داسی ور پرانستل به ډیری بدی پایلی ولري . حافظان، دشیخینو په دفاع کې خاص کتابونه لري ،لکه عراقی دمسلم په دفاع کې اوابن حجر دبخاری په دفاع کې [مؤلف]

۳- ج ۱ ص ۴۴۰.

۴- ج ۱ ص ۴۶۰.

هغه څه دی چې الحارث بن أبی أسامه په خپل مسند[١] او ابن عدی په الکامل[٢] کې د خراش له طریق له انس نه روایت کړی

چې فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ تُحَدِّثُونَ وَيُحَدَّثُ لَكُمْ فَإِذَا أَنَا مِتُّ كَانَتْ وَفَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ تُعْرَضُ عَلَيَّ أَعْمَالُكُمْ فَإِنْ رَأَيْتُ خَيْرًا حَمِدْتُ اللَّهَ وَإِنْ رَأَيْتُ غَيْرَ ذَلِكَ اسْتَغْفَرْتُ اللَّهَ لَكُمْ»؛ **«زما حیات دتاسو لپاره خیر دی خبری کووی اوخبری درته کیږی، اوکله چې وفات شم زما وفات دتاسو لپاره خیردی، دتاسی اعمال ماته عرضه (وړاندی) کیږی نو که مې خیر عمل ولیدو دالله حمد اوستاینه کووم اوکه غیر له هغه نه مې ولیدل له الله څخه درته دمغفرت غوښتنه کوم**

حافظ العراقی په المغني کې فرمایي: «اسنادیی دخراش دضعف له امله ضعیف دی»[٣] اه.

اوله هغې جملی نه: کوم څه چې حافظ ابو نصر الحسن بن محمد بن ابراهیم الیونارتی متوفی ۵۲۷ په خپل معجم کې چې څو جزه دی ذکر کړی دی، وایی: اوریدلی می دی "وامې وریدل" چې الشریف واضح بن ابی تمام الزینبی ویل: وامی وریدل چې ابا علی بن تومه ویل: یوه ډله نا آشنا خلک د ابی حفص ابن شاهین خواته را جمع شول او له هغه نه یی وغوښتل هغه عالی ترینه حدیث چې له ده سره دی ورته ووایی. نو وی ویل: اوس عالی ترینه حدیث چې له ماسره دی تاسی ته وایم. عبد الله بن محمد البغوی را ته وویل شیبان بن فروخ الأبلّي راته وفرمایل، نافع ابو هرمز السجستانی راته وفرمایل او وی ویل: اوریدلی می دی چې انس بن مالک ویل: وامی وریدل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ. . . » **اوحدیث ادامه لکه تیر غوندې ذکر کووی.**

دا روایت ابن النجار په «تاریخ بغداد» کې له معمر بن محمد الأصبهانی له ابی نصر الیونارتی روایت کړی دی.

١- بغية الباحث ج ٢ ص ٨٨٤ (٩٥٣).

٢- ج ٣ ص ٩٤٥.

٣- المغنى عن حمل الأسفار، پاورقی (إحياء علوم الدين) ج ٤ ص ١٥٥.

او دغه اسناد دعلماؤ پراتفاق سره دهرمز په ضعف باندی جدا ضعیف دی.

او منجمله: هغه څه دی چې الحارث بن ابی اسامه التمیمی چې دصحیح قول مطابق په کال ۲۸۲ ه کې وفات شوی دی په خپل مشهوره مسند[۱] کې روایت کړی دی چې ویلی دی: الحسن بن قتیبه له جسر بن فرقد له بکر بن عبد الله المزنی رحمه الله نه روایت کړی چې فرمایل: اوریدلی مې دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ، تُحْدِثُونَ وَيَحْدُثُ لَكُمْ، وَوَفَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ، تُعْرَضُ عَلَيَّ أَعْمَالُكُمْ فَمَا كَانَ مِنْ حَسَنٍ حَمِدْتُ اللَّهَ، وَمَا كَانَ مِنْ سَيِّءٍ اسْتَغْفَرْتُ اللَّهَ لَكُمْ»؛

«زما حیات دتاسی لپاره خیردی خبری کووي اوتاسوته خبري کيږي، اوزما وفات دتاسی لپاره خیردی، اعمال مو ماته عرضه (وړاندی) کیږی نو هرڅه له (اعمالو) مو چې نیک وینم دالله حمد اوستانه کووم او هرڅه د(اعمالو)مو چې بدوینم دالله څخه درته دمغفرت غوښتنه کووم.

اسنادیی ضعیف دی.

بل طریق: امام اسماعیل بن اسحاق، مالکی قاضی چې په کال ۲۸۲ کې وفات شوی په خپل کتاب «فضل الصلاة علی النبی»[۲] کې فرمایی: سلیمان بن حرب وفرمایل، حماد بن زید چې د اسماعیل القاضی جد دی، له غالب القطان له بکر بن عبد الله المزنی رحمه الله مرفوعاً[۳] روایت کړی او لفظ یی داسی دی: «حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ، تُحَدِّثُونَ وَيُحَدَّثُ لَكُمْ فَإِذَا أَنَا مِتُّ كَانَتْ وَفَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ تُعْرَضُ عَلَيَّ أَعْمَالُكُمْ فَإِذَا رَأَيْتُ خَيْرًا حَمِدْتُ اللَّهَ وَإِنْ رَأَيْتُ غَيْرَ ذَلِكَ اسْتَغْفَرْتُ اللَّهَ لَكُمْ»؛ «زما حیات دتاسی لپاره خیردې خبری کووي او خبرې درته کیږی، اوکله چې وفات شوم زما وفات دتاسی لپاره خیردی دتاسی اعمال پرما عرضه (وړاندې)

۱- بغية الباحث، ج ۲ ص ۸۸۴ (۹۵۳).

۲- ص ۴۰، حديث ۲۵.

۳- مرفوع درسول الله خبره اوموقوف دصحابه و قول دی.

کيږی نو کله مې چې دخير عمل وليدو دالله ستاينه اوحمد وايم اوکه غير له هغو مې وليد له الله څخه درته دمغفرت غوښتنه کوم».

حافظ محمد بن عبد الهادی المقدسی په «الصارم المنکی»[1] کتاب کې فرمايي: «د دی روايت اسناد تر بکر بن عبد الله پوری صحيح دی او بکر بن عبد الله له ثقاتواودتابعينو له ائمۀ و څخه دی». اه

وايو: په کتب سته و کې پربکر المزنی باندی احتجاج شوی دی دهغه پرامامت اوجلالت باندې متفق دی.

بل طريق: اسماعيل قاضی په مذکوره کتاب[2] کې يی فرمايي: حجاج ابن المنهال وفرمايل، حماد بن سلمه له کثير ابی الفضل له بکر بن عبد الله رحمه الله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ وَوَفَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ تُحْدِثُونَ وَيَحْدُثُ لَكُمْ فَإِذَا أَنَا مِتُّ عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُكُمْ فَإِنْ رَأَيْتُ خَيْرًا حَمِدْتُ اللَّهَ وَإِنْ رَأَيْتُ شَرًّا اسْتَغْفَرْتُ اللَّهَ لَكُمْ»؛ «زما حيات دتاسی لپاره خير دی خبری کووی او خبری درته کيږی اوکله چې زه وفات شوم دتاسی اعمال ماته عرضه (وړاندی) کيږی نوکه می خيرولدو دالله حمد اوستاينه کووم اوکه مې شروليد دتاسی لپاره دالله څخه دمغفرت غوښتنه کووم». او دا اسناد هم صحيح دی، رجال يی پر شرط صحيح دی، بغير له کثير ابی الفضل، چې ابن القطان السجلماسی دهغه په اړه فرمايي: «دهغه حال غيرمعروف (ناشناخته دی) او حافظ پری رد کړی چې هغه معروف او شناخته دی او بخاری هغه په «التاريخ الکبير»[3] کې ذکرکړی دی او ويلی دی چې: «سعيد بن عامر دهغه ښه مدحه کړی» او ابن حبان هغه په «الثقات»[4] کې ذکر کړی دی

۱- ص ۲۶۷.

۲- فضل الصلاة على النبي، ص ۴۱ حديث ۲۶.

۳- ج ۷ ص ۹۲۸/۲۱۳.

۴- ج ۵ ص ۳۳۱.

حافظ فرمایی چې: «ابن القطان پر کلام د البخاری باندی آگاهی نه لرله». اه. او دهغه نوم: کثیر بن یسار البصري الطّفاوی دی او «الصارم المنکی»[1] په کتاب کې دهغه د نوم پرځای کثیر بن الفضل راغلی دی چې دکتابت اشتباه (تحریف) دی.

او په مجموع کې دا سند صحیح دی اودارنکه علامه سیوطی داحدیث په «الجامع الصغیر» کې له روایت دابن سعد په «الطبقات»[2] کې له بکر المزنی څخه تخریج کړی دی او شارح یې المناوی فرمایی: «رجال یی د اعتماد وړ او(ثقه) دی»[3] اه.

کوم څه چې دحدیث دلفظ او داسنادو دتحقیق په اړه و تردی ځای راغلل، له کوم څه نه چې ذکر موکړل څرکندیږی چې داحدیث صحیح دی دهغه په صحت کې شک اوکومان وجود نلري اودهغه دتضعیف اوتکذیب لپاره اقدام کول یوبد جرأت دی اوجایز نه دی د داسی مسلمان لپاره چې دالله تعالی د دی وینا باندی پوهیدلی وی اوداسی څه تر سره کړی الله پاک فرمایی: ﴿مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ۱۸﴾ [ق: ۱۸] دحدیث شواهد.

۱- ص ۱۷۸.

۲- ج ۲ ص ۱۴۹.

۳- التیسیر، ج ۱ ص ۵۰۲.

دا حدیث شریف داسی شواهد

لری چې معنای یی تأیید او مبنایی قوی کوی، داسی چې له دی شواهدو سره اعلی ترینه درجاتو د صحت اوقبول ته رسیږی[1] اوزه دالله تعالی په ملتیا سره هغه ذکر کووم اولومړی هغه حدیث راوړم چې تر ټولو زیات لفظا له دی حدیث سره نژدی وی. او وایم: ابو نعیم په خپل کتاب «الحلیه»[2] کې لیکلی: عبد الله بن محمد بن جعفر – یعنی ابو الشیخ بن حیان چې هغه مشهوره حافظ دی له احمد بن عیسی بن ماهان الرازی له محمد بن مصفی له بقیة عباد بن کثیر له عمران – چې هم هغه القصیر دی له – انس نه روایت کړی فرمایلی دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «إِنّ أَعْمَالَ أُمّتِي تُعْرَضُ عَلَيّ، فِي كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ وَاشْتَدَّ غَضَبُ اللّهِ عَلَى الزُّنَاةِ»؛ «بیشکه دامت اعمال مې هره جمعه راته عرضه (وړاندی) کیږی اوپرزناکوونکو باندې دالله خشم شدت مومې». او حکیم الترمذی په «نوادر الأصول» کې د عبد الغفور بن عبد العزیز بن سعید الشامی له طریقه له پلار له نیکه څخه یی چې صحابی وو روایت کړی ویویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «تُعْرَضُ الْأَعْمَالُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ عَلَى اللّهِ وَتُعْرَضُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ وَعَلَى الْآبَاءِ وَالْأُمّهَاتِ الْجُمُعَةَ فَيَفْرَحُونَ بِحَسَنَاتِهِمْ وَتَزْدَادُ وُجُوهُهُمْ بَيَاضًا وَإِشْرَاقًا فَاتّقُوا اللّهَ وَلَا تُؤْذُوا أَمْوَاتَكُمْ»؛ «الله ته د دوشنبی او پنج شنبې په ورځ کې اعمال عرضه (وړاندې) کېږې او پیغمبرانو پلرونو او مورګانو ته دجمعې په ورځ عرضه کیږی او هغوې (پیغمبران پلرونه او میندی) دنیکیانو په خاطریی (دهغو ژوندیو دنیکیانو له امله چې هغوته عرضه کېږې) خوشحالیږی اوصورتونه یې روښانه اونورانی کیږی نو له الله څخه ووېرېږی خپل مړی مه آزاروي». دغه دوه احادیث

---

[1] ۱- امام السمهودی په وفاء الوفاء ج ۱ ص ۳۱ کې د دی حدیث داړخونو دراوړلو روسته لیکی: او دا حدیث شواهد لري چې هغه تقویه کووي.

[2] ۲- ج ۶ ص ۱۷۹.

ضعيف دی خو ضعيف احاديث دشواهدو په توګه راوړل معتبره ګڼل کيږی، لکه څنګه چې حافظ المنذری د «التغريب والترهيب»، په څوځايه کې او حافظ ابن القيم په «جلاء الأفهام» کې دا ويلی، اوداسی يو څه داحاديثو په علم کې مقرر شوی دی.

قرآنکر یم دا حدیث تایید وي؛

الله تعالی فرمایی: ﴿فَكَيۡفَ إِذَا جِئۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةِۭ بِشَهِيدٖ وَجِئۡنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدٗا﴾ [النساء: ٤١] «نو ځیر شئ! دوی به په هغه وخت کښي څه وکړي چي موږ له هر اُمت څخه یو شاهد راولو او پر دغه اُمت باندي تا (محمد صلی الله علیه وسلم) شاهد تېر کړو».

الله سبحانه وتعالی په دی آیت کریمه کې خبر ورکوول کیږی چې دقیامت په ورځ به محمد صلی الله علیه وسلم پرامت باندیې دګواه په توګه راوستل کیږی

داچې دګواه په توګه را وستل کیږی داسی اقتضاء کیږی چې اعمال دامت یی ورته عرضه شي ترڅو پرهغه څه باندې چې خبردی یا یی لیدلی ګواهی ورکړي. ابن المبارک فرمایی: «له انصارو نه یوکس مونږ ته له المنهال بن عمرو نه خبر راکړ چې هغه اوریدلی دی چې سعید بن المسیب ویل: هیڅ داسي ورځ نشته چې دهغې په سهار او ماښام کې دمحمد ﷺ امت هغه ته عرضه(وړاندی) کیږی او هغوی پرنومونو او اعمالو سره پیژنی اوپردی توګه پرهغوی باندی شاهدي ورکووی، الله تبارک وتعالی فرمایی: ﴿فَكَيۡفَ إِذَا جِئۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةِۭ بِشَهِيدٖ وَجِئۡنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدٗا﴾ [النساء: ٤١]» نو ځیر شئ! دوی به په هغه وخت کښي څه وکړي چي موږ له هر اُمت څخه یو شاهد راولو او پر دغه اُمت باندي تا (محمد صلی الله علیه وسلم) شاهد تېر کړو.

او امام قرطبی د دغه باب په التذکرة، کې: «هر هغه څه چې درسول الله دشاهدی ورکولو دامت په اړه راغلی»، د سعید بن المسیب پورته ذکر شوی حدیث را وړی اوبیا لیکی: «مخکې راغلل چې اعمال هر ورځ د دوشنبې اوپنج شنبې کې الله ته وړاندې کیږی او پیغمبرانو پلرونو اومیندو ته دجمعې په ورځ وړاندې کیږې. فرمایی: چې دا هیڅ تعارض نلری ځکه احتمالری چې داعمالو عرضه کیدل هره ورځ کې مختص پیغمبرانوته وي، اودجمعی په ورځ له نورو پیغمبرانو علیه و علیهم أفضل الصلاة و السلام سره ورته عرضه شي». اه.

او طبرانی په ضعیفو اسنادو سره له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کړی چې وایی: کله چې دا آیت ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا٤٥﴾ [الأحزاب: ٤٥] {ای پیغمبره! مونږ ته گواه، زیری ورکونکی او ویرونکی لیږلی یی}. نازل شو، داهغه مهال وو چې علی او معاذ رضی الله تعالی عنهما ته یی امر کړی وو چې یمن ته لاړ شي، ورته وی ویل: لاړشي زیری اوبشارت ورکړی (خلک) متنفره کووي مه.

خلکو سره آسانی وکړی سخت ګیری مکووي. ځکه چې پرماباندی رانازله شوه چې: {ای پیغمبره! مونږ تاسو} دخلکو طرف ته {ګواه او بشارت ورکوونکی} پرجنت {او ویرونکی} له اور {او دعوت ورکوونکی دهغه په اذن سره } پر ګواهی ورکولو د لا إله إلا الله {او نورانی چراغ}، دقرآن په وسیلې سره استولی یی». [1] اه

ابن کثیر د دې آیت په تفسیر کې وایی: «دالله پاک دغه فرمودۀ: ﴿شَٰهِدٗا﴾ یعنی دالله په وحدانیت باندی ګواه داچې پرته له هغه نه هیڅ اله وجود نلرې اوګواه دقیامت پرورځ کې دخلکو پراعمالو باندې. ﴿وَجِئۡنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدٗا﴾ د دی فرمودی غوندی یی ده: ﴿لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيۡكُمۡ شَهِيدٗا﴾ [البقرة: ١٤٣]

{ترڅوپرخلکو باندې ګواه اووسي، اوپیغمبر هم پرتاسې باندې ګواه وي}» [2] اه.

که وویل شی چې الله پاک د دې امت په نسبت خبرورکړی چې پرنورو امتونو به ګواهی ورکووي، لکه څنګه چې فرمایی: ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيۡكُمۡ شَهِيدٗا﴾ [البقرة: ١٤٣] {او په همدې ډول مونږ یو اُمت وسط (غوره امت) ګرځولي یاست چې تاسي پر نړیوالو شاهدان او پیغمبر پر تاسي شاهد اوسي}.

۱- المعجم الکبیر، ج ۱۱ ص ۲۴۷ (۱۱۸۴۱).

۲- ج ۳ ص ۶۵۱.

كه ځوک ووايي چې هيڅا هم دا نه دويلى چې دتيرو امتونو اعمال دى امت ته عرضه كيږى.

نو د دى ځواب پردوه وجهو دى:

اولا: داعمالو عرضۀ كيدل پرهغه څيزونو باندى دى چې رسول الله هغو ته مختص شوى دى، لكه: اختصاص كيدل دهغه په قبر مبارک کې يې د شهداوله حيات څخه غوره حيات ته، شفاعت اونورمواردوته.

(داسى مواردو اواموراتو ته الله پاک رسول الله مختص اوځانګړى کړى دى)

او دوهم ځواب: په صحيح حديث کې راغلى چې دا امت به دخپل پيغمبر د اخبارو مطابق او هغه څه چې په قرآن کې راغلى ګواهى وركووى داسى

كله چې هغوي ګواهې ورکړى چې پيغمبرانو خپلو امتونو ته پيغام رسولى دى دوى ته ويل كيږى چې له كومه وپوهيدلى؟ وبه وايى: زمونږ پيغمبر صلى الله عليه وسلم هغه څه چې دالله كتاب کې راغلى وو دهغه مطابق مونږ ته خبر راكړچې رسولانو دالله پيغام رسولى دى او مونږ هم پرهغو ايمان راوړو اوتصديق موكړو. او پيغمبرهم هغوى تزكيه اوخبرى يى تصديق وي دحديث شريف معنا هم همدا ده چې ښكاره اوكومه خفاء پكې نشته.

اوكه و ويل شي چې: دهغه څه په اړه چې الطبرانى[1] له محمد بن فضاله له محمد ﷺ نه روايت كړى څه وايى؟

داچې رسول الله ﷺ يوه قرائت كوونكى ته امر وكړ چې قرائت وكړي كله چې دالله ﷻ دي فرمودى ته ورسيد: ﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ٤١﴾ [النساء: ٤١] {نو څير شئ! دوى به په هغه وخت كښي څه وكړي چې موږ له هر اُمت څخه يو شاهد راولو او پر دغه اُمت باندي تا (محمد صلى الله عليه وسلم) شاهد تېر كړو. ؟}، رسول الله وژړل تر دى چې ږيره مباركه يى لنده شوه او وى فرمايل: «أَيْ رَبِّ

١- المعجم الكبير، ج ١٩ ص ٢٤٣ (٥٤٦).

شهِدتُّ علی مَنْ أنا بینَ ظَهْرانَیْهِ فَکَیْفَ بِمَنْ لَمْ أَرَ؟»؛ «ای پروردگاره!، زه دهغوکسانو چې په مینځ کې یم گواه یم، نو دهغو کسانو لپاره چې هغه مې نه دلیدلی څرنګه دی؟».

ښایی ځنی ناپوهان له دی حدیث نه داسې فهم وکړی چې داحدیث داعمالو عرضه کیدل نفی کووي.

وایو: چې داحدیث شریف داعمالو عرضه کیدل تایید وي نه نفی، او داپیښه دهغو اسبابو څخه ده چې الله پاک یی خپل پیغمبر دهغه لپاره په دی خصوصیت سره تکریم کړ د دی لپاره چې پرامت باندی یی گواهی ورکول دمشاهدی له مخې وي په هسی توګه سره چې دی په مدینه کې وو دامت په عرضه کیدلو یی

له نورو امتونو سره دهغه تکریم وکړ لکه څنګه چې په «صحیحینو»[1] کې راغلی، او حافظ په «فتح الباری»[2] کې وایی: {دمحمد بن فضاله الظفری په روایت کې داسی راغلی: داپیښه هغه وخت رامینځ ته شوه چې محمد صلی الله علیه وسلم په بنی ظفر کې وو، او دا روایت ابن ابی حاتم طبرانی اوبغیر له دوی دوه وونه د یونس بن محمد بن فضاله له پلار دطریقه یی له رسول الله څخه تخریج کړی دی چې رسول الله دبنی ظفرو خواته لاړ له ده سره ابن مسعود اوبعضی نور صحابه هم وو داچې یو قرائت کوونکي ته یی دقرائت کوولو امر ورکړترڅو دی آیت ته ورسید: ﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ۝٤١﴾ [النساء: ٤١]

نو بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وژړلی تردی چې ږیره مبارکه یی لمده شوه او وی فرمایل: «یَا رَبِّ هَذَا عَلَى مَنْ أَنَا بَيْنَ ظَهْرَيْهِ فَكَيْفَ بِمَنْ لَمْ أَرَه»؛ «ای پروردگاره!، زه

۱- صحیح البخاری، ج ۲ ص ۴۷۹ حدیث (۳۴۱۰) و ج ۴ ص ۳۷ حدیث (۵۷۰۵) و ج ۴ ص ۴۶ حدیث (۵۷۵۲) و ج ۴ ص ۱۹۹ حدیث (۶۵۴۱). صحیح مسلم ج ۱ ص ۱۹۹ حدیث (۳۷۴) و ج ۱ ص ۲۰۰ حدیث (۳۷۵).

۲- ج ۸ ص ۷۱۸.

دهغوکسانو چې په مینځ کې یم ګواه یم، نو هغه کسانو لپاره چې هغه مې نه دلیدلی هغه به څرنګه وی؟».

او ابن المبارک په «الزهد»[١] کې د سعید بن المسیب له طریقه تخریج کړی دی چې وی ویل: «لَيْسَ مِنْ يَوْمٍ إِلَّا يُعْرَضُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّتُهُ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً فَيَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ وَأَعْمَالِهِمْ فَلِذَلِكَ يَشْهَدُ عَلَيْهِمْ»؛ «هیڅ داسې ورځ نشته مګر داچې درسول الله صلی الله علیه وسلم امّت سهار اوماښام هغه ته عرضه(وړاندی) کېږی او هغوي له قیافو او اعمالو سره پیژني اوپه دی شکل پرهغوی باندې ګواهی ورکووی».

او دغه مرسله اثر، دابن فضاله دحدیث اشکال لیری کووی والله اعلم}. انتها د کلام یی.

خلاصهٔ د اشکال دادی چې: رسول الله څرنګه د خپل امت پرکسانو باندی چې روسته له ده څخه راځي شاهدی ورکووي؟ د اشکال درفع خلاصه هم داده چې: اعمال یی پرهغه باندې عرضه کیږی اوپرهغوی باندی ښکاره اوڅرګنده ګواهي ورکووي، او حافظ، د سعید بن المسیب اثر مرس[٢] ګرځولی دی، د دی لپاره چې په داسی امورو کې نشوکولی چې شخصی رایه اواجتهاد وکاروو، نو دهغه اثر دهغو اثارو له جملی څخه دی چې حکم یی په رفع سره ورکول کیږی له همدی امله یی هغه مرسل نومولی او دسعید بن المسیب مراسل له صحیح ترینه او قوی ترینه مراسلو څخه دي؛ حتی چې امام شافعی دهغه مراسل منلی دی سره له دی چې دنورو مراسل یی رد کړی دي.

و الله اعلم

١- ص ۴۶۸.

٢- مرسل: هغه حدیث ته ویل کیږی چې تابعی له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کړی وی اودصحابی نوم یی نه وي ذکر کړی. او ابن حجر دا روایت مرسل بللی نه دتابعی رایه او وینا. [مترجم]

دحوض حدیث، داعمالو دعرضه کیدلو حدیث تائید وي.

ابو یعلی[1] له ابی سعید الخدری (تخریج کړی چې وی فرمایل: وامې وریدل رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «مَا بَالُ رِجَالٍ يَقُولُونَ: إِنَّ رَحِمَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَنْفَعُ قَوْمَهُ، بَلَى وَاللَّهِ إِنَّ رَحِمِي مَوْصُولَةٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَإِنِّي أَيُّهَا النَّاسُ فَرَطٌ لَكُمْ عَلَى الْحَوْضِ، فَإِذَا جِئْتُمْ قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَا فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ، وَقَالَ أَخُرُ: أَنَا فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ "، قَالَ لَهُمْ: " أَمَّا النَّسَبُ فَقَدْ عَرَفْتُهُ، وَلَكِنَّكُمْ أَحْدَثْتُمْ بَعْدِي، وَارْتَدَدْتُمْ الْقَهْقَرَى»؛ «بعضی باندی څه شوي چې وایی رَحِم (نسب او قرابت) رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل قوم ته نفع نه رسوي؟ هوکې په الله قسم چې زما رَحِم په دنیا او آخرت کې ما پوری وصل وي. او ای خلکو! زه دحوض په غاړه دتاسو منتظریم، اوکله چې راغلی یوکس وایی: ای دالله رسوله! زه پلانکی دپلانکي زوی یم. هغوته ویل کیږی: اما نسب، بیشکه چې هغه پیژنم مګر له مانه روسته مو (په خپله) څه ایجاد کړل او پر شاتې وګرځیدلی».

حافظ الهیثمی فرمایي: «رجال یی صحیح دی؛ بغیر له عبد الله بن محمد بن عقیل چې هغه هم داعتماد وړ دی»[2] اه.

وایو: د دی کس حدیث حسن دی. لکه څنګه چې په خپله حافظ الهیثمی د «مجمع الزوائد»[3] په مختلفو ځایونو کې پرهغه باندې تصریح کړی ده. نو بیا داخبره درسول اکرم صلی الله علیه وسلم چې فرمایلی دی: «وَلَكِنَّكُمْ أَحْدَثْتُمْ بَعْدِي» دلیل پردی چې اعمال یی ورته وړاندی کړل شوی دی اوکنه نه یی شو کولی چې داسی یوڅه باندی له هغه نه خبر شي.

۱- مسند أبي يعلى ج ۲ ص ۴۳۳.

۲- مجمع الزوائد، ج ۱۰ ص ۳۶۴.

۳- وګري: المجمع، ج ۱ ص ۲۶۴، و ج ۵ ص ۱۷ و ج ۵ ص ۵۷.

قريبانوته داعمالوعر ضه كيدل داعمالو دعرضه كيدلو حديث تائيد وي:

ابن ابی الدنيا دخپل کتاب «المنامات»[1] په لومړيو کې وايي: عبد الله بن شبيب راته وويل له ابوبكر بن شيبه الحزامی له فليح بن اسماعيل نه چې وی ويل: محمد بن جعفر بن ابی كثير له زيد بن اسلم له ابو هريره نه (راته تعريف کړو چې وی ويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «لا تَفْضَحُوا مَوْتَاكُمْ بِسَيِّئَاتِ أَعْمَالِكُمْ، فَإِنَّهَا تُعْرَضُ عَلَى أَوْلِيَائِكُمْ مِنْ أَهْلِ الْقُبُورِ»؛ «مړی مو د (دنور مړو په وړاندي) دخپلو اعمالو له امله مه شرمنده او رسوا کووي، د دی په خاطر چې اعمال مو په کبرونكې اولياءو اودوستانوته مو وړاندې كيږی».

او امام احمد فرمايي: عبد الرزاق وايي سفيان له هغه کس نه چې له انس نه يی اوريدلی راته وويل چې أنس ويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «إِنّ أَعْمَالَكُمْ تُعْرَضُ عَلَى أَقَارِبِكُمْ وَعَشَائِرِكُمْ فَإِنْ كَانَ خَيْرًا اسْتَبْشَرُوا وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذَلِكَ قَالُوا اللّهُمّ لاَ تُمِتْهُمْ حَتّى تَهْدِيَهُمْ كَمَا هَدَيْتَنَا»[2]؛ «دتاسی اعمال قريبانو او عشيرې ته مو وړاندې كيږې، نو كه اعمال مو نيک وي خوشحاليږی اوكه غيرله دی نه وي وايي: بارالهی هغوی مه وژنه ترڅو چې هدايت وركووي لكه څنګه دی چې مونږ ته هدايت راكړ».

او ابو داود الطيالسی وايي: الصلت بن دينار راته وويل له الحسن بن جابر له عبد الله چې وی ويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «إِنّ أَعْمَالَكُمْ تُعْرَضُ عَلَى أَقَارِبِكُمْ فِي قُبُورِهِمْ فَإِنْ كَانَ خَيْرًا اسْتَبْشَرُوا وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذَلِكَ قَالُوا اللّهُمّ أَلْهِمْهُمْ أَنْ يَعْمَلُوا بِطَاعَتِكَ»[3]؛ «بيشكه دتاسې اعمال قريبانوته مو په قبرونو کې عرضه كيږې نوكه نيک وی

۱- ص ۱۹.

۲- المسند، ج ۳ ص ۶۴۳ (۱۲۲۷۲).

۳- مسند الطيالسی، ص ۲۴۸ اوپه سند کې يی الصلت بن دينار ابو شعيب راغلی چې متروک دی وګوري: الضعفاء و المتروكين دابن الجوزی ج ۲ ص ۵۷ او الميزان ج ۳ ص ۴۳۶. – منحة المعبود د الساعاتی، ج ۱ ص ۱۵۷ (۷۴۴).

خوشحالیږی اوکه غیر له هغه نه وي وایی: بار الها هغوي ته الهام وکړه ترڅو ستاپه اطاعت کې اعمال ترسره کړی».

او یحیی بن صالح الوحاظی فرمایي: ابو اسماعیل السکونی راته تعریف کړو چې وی ویل: اوریدلی مې دی چې مالک بن أدی ویل: وامې وریدل النعمان بن بشیر (چې پرممبر ناست وو ویل یی: وامې وریدل رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «أَلا إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا إِلا مِثْلُ الذُّبَابِ تَمُورُ فِي جَوِّهَا , فَاللَّهَ اللَّهَ فِي إِخْوَانِكُمْ مِنْ أَهْلِ الْقُبُورِ , فَإِنَّ الأَعْمَالَ تُعْرَضُ عَلَيْهِمْ»[1]؛ «بیشکه د دنیاه عمر په هواکې دیوه مچ دالوتلو په اندازه نه دی پاتی، نو الله الله داهل کبرونو خپل وروڼه رعایت کړي ولی چې اعمال مو پرهغوی باندې عرضه کیږی».

دا احادیث[2] اګرکه ضعیف دی خو دصحابه اوتابعینو آثار دا احادیث تائید وي اوداسی اقتضاء کووی چې دا احادیث دی اصل ولري. عبد الله بن المبارک فرمایي: ثور بن یزید له ابی رُهم[3] له ابی ایوب نه راته. تعریف کړو چې وې ویل: «تُعْرَضُ أَعْمَالُكُمْ عَلَى الْمَوْتَى , فَإِنْ رَأَوْا حَسَنًا فَرِحُوا وَاسْتَبْشَرُوا، وَقَالُوا: اللَّهُمَّ هَذِهِ نِعْمَتُكَ عَلَى عَبْدِكَ فَأَتِمَّهَا عَلَيْهِ , وَإِنْ رَأَوْا سُوءًا، قَالُوا: اللَّهُمَّ رَاجِعْ بِهِ»؛ «اعمال پرمړو باندی عرضه (وړاندې) کیږی، نو که هغه یی نیک وموندل خوشحالیږی بشارت ورکووی اوفرمایي: بارالهی دا دی پربنده باندی دتا نعمت دی نو دانعمت دی پربنده باندی پوره کړه اوکه د هغه اعمال بد وینی وایي: بارالهی دهغه په حق کې مراجعه وکړه».

۱- المستدرک د الحاکم، ج ۴ ص ۳۴۲ (۷۸۴۹) - کنزل العمال د المتقی الهندی، ج ۱۵ ص ۶۸۵ (۴۲۷۴۰) (۴۲۷۴۱) او په دغه دوه حدیثوکې، په لفظ: «فَإِنَّ أَعْمَالَكُمْ» راغلی.

۲- د دی احادیثو اسناد د اهوال القبور په کتاب کې ډیرزیات تغییر او تصحیف شوی، په ۷۷-۷۸ صفحوکې وګوري.

۳- رُهم د راء په ضم سره، ابی رهم، احزاب بن اسید نوم دی چې په صحابی والی کې یی اختلاف دی. [مؤلف] او په کتاب الروح (صفحه ۸ دوهم چاپ)کې دهغه پرځای ابراهیم راغلی دی، چې تصحیف شوی دی.

او همدا شان ابن المبارک فرمايي: صفوان بن عمرو له عبد الرحمن بن جبير بن نفير له ابا الدرداء نه روايت کووي چې وی ويل: «إِنَّ أَعْمَالَكُمْ تُعْرَضُ عَلَى مَوْتَاكُمْ، فَيُسَرُّونَ وَيُسَاءُونَ»[١]؛ «بيشکه دتاسی اعمال مړو ته مو عرضه (وړاندې) کيږې، اودهغه له امله خوشحاله او خپه کيږی».

له همدې امله ابا الدرداء وييل: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَعْمَلَ عَمَلا يُخْزَى بِهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ»؛ «بار الها!زه تاته پناه وړم له دی چې داسی يوعمل ترسره کړم چې دهغه په خاطر دعبدالله بن رواحه په وړاندې شرمنده شم».

او ابن ابی الدنيا دبلال بن ابی الدرداء له طريقه روايت کړی دی چې ويل يی: اوريدلی مې دي چې ابا الدرداء په سجده کې وو او ويل يی: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ يَمْقُتَنِي خَالِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ إِذَا لَقِيتُهُ»؛ «بار الها زه تاته پنا وړم له دی چې کله له ماما عبد الله بن رواحه سره مې ملاقات وکړم زما دلاسه ناراحته او بيزاره شي».

او احمد بن ابی الحواری وايی: «ورور مې محمد راته خبر راکړ چې وی ويل: عباد بن عباد ابراهيم بن صالح چې دفلسطين امير وو ورغی اوهغه ته يی وويل: ماته نصحت(موعضه) وکړه. وی ويل: په څه شي تاته موعضه وکړم الله دتا اصلاح کړی؟ ماته را رسيدلی چې دژونديو اعمال مړو قريبانوته يی عرضه کيږي، نو وګوره چې څه رنګه اعمال دی رسول الله ته وړاندې کيږی نوبيا ابراهيم وژړل تردی چې وښکي يی پرږيره باندی را وبهيدې».[٢] ابن ابی الدنيا هغه په خپل کتاب القبورکې روايت کړی دی.

او ابن المبارک په سند سره روايت کړی چې له سعيد بن جبيرنه سوال وشو چې آيا دژونديو اخبار مړو ته رسيږي؟ وی فرمايل: هوکې هيڅ يو مړی نه دی چې قريبان د ولري

١- الزهد د ابن المبارک، ص ۴۶۸ حديث (۱۶۵).

٢- امام ابو نعيم در حلية الأولياء ج ١٠ ص ٢١ آن را با سند روايت كرده است و ابن القيم در الروح ج ١ ص ١٧٧ آن را به نقل از ابن ابی الدنيا ذكر كرده است.

مګر داچې دقریبانو اخبار یی هغوته رسیږی که ور رسیدلی اخباریی نیک وی نو خوشحاله کیږي اوکه بد وي مایوس اوغمجن کیږی».

ابن القیم په خپل کتاب «الروح» کې وایی: «له عمرو بن دینار نه په صحّت سره رسیدلی چې وی ویل: هیڅ مړی نشته مګر دا چې پوهیږی چې کورني یی روسته له هغه نه څه ترسره کوی، دوی هغه ته غسل اوکفن ورکووي او هغه دوی ته ګوري. اوله مجاهد څخه صحّت ته رسیدلی چې وی ویل: بیشکه قبر کې دننه کس، داولاد صالح والی یی روسته له ده څخه هغه ته زیری ورکووی»[1] اه

اودارنګه فرمایی: «په دی باب کې ډیر احادیث له صحابهؤ څخه شته دی او ځنی انصارو دعبدالله بن رواحه له قریبانو ویل: یا الها! زه تاته پنا وړم له هغه عمل څخه چې پرهغه باندې دعبدالله بن رواحه په وړاندې شرمند ه شم، دا یی هغه وخت کې ویل چې عبدالله بن رواحه شهید شو». اه په دی اړه ډیر آثار شته چې دټولو ذکر یی دلته طولانی کیږی او زمونږ موضوع دلته دټولو راوړل نه دي بلکې لکه څنګه مو چې مخکې ذکر کړلو دا مخکني احادیث تقویه کووي، د دی لپاره چې عرضه کیدل داعمالو قریبانو ته دغیبی امورو څخه دی چې په رأیه اواجتهاد سره نه پیژندل کیږی که چیرته په دی اړه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دوی ته حدیث نه وی رسیدلی، نو دوی هم داعمالو دعرضه کیدو په اړه خبر نه ورکولو اوهغه یی دوعظ اوتذکرې په مجالسو کې نه یادولو.

داچې دژوندیو اعمالو خپلوانو مړو ته، دهغه قرابت له امله چې د شفقت اوښیګړی لامل کیږې.

لامل ګرځي عرضه کیږی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوی څخه غوره دی چې دامت اعمال یی ورته وړاندې شي؛ د دی لپاره چې د رسول الله شفقت اورحمت پرهغو او دخیر په رسیدلوکې یې دخپلوانو په پرتله یی ډیر حریص دی.

۱- ج ۱ ص ۱۹۱.

لکه څنګه چې الله تعالی فرمايی: ﴿لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ١٢٨﴾ [التوبة: ١٢٨]

وګورئ! تاسي ته يو پیغمبر راغلی دی چي په خپله له همدا تاسي څخه دی. ستاسي په زيان کښي لوېدل پر هغه ګران تماميږي. هغه ستاسي د رغېدني حرصناک دی، د مؤمنانو لپاره هغه خواخوږی او زړه سواند دی».

کله چې ابن رجب دژوندیو داعمالو مړو ته دعرضه کیدو داحادیثو مجموعه ذکر کووی، روسته پسې فرمايی: «وقد جاء عرض أعمال الأمة كلها على رسول الله صلى الله عليه وسلم بمنزلة الوالد»؛ «درسول الله صلى الله عليه وسلم دټول امت اعمال چې دامت دپلارپه توګه دی (ورته) ډېر عرضه کيږی» وریپسې دابن مسعود[1] حديث دباب په لومړی سر کې ذکرکووي اوبعضی شواهد يی راوړي. دغه نص داهوال قبور په کتاب کې چې په مکه کې چاپ شوی نشته دی نه پوهيږم چې سهواً حذف شوی اوکه عمداً يی ترې ليرې کړی دی؟

١- هغه يی له اسنادو سره دالبزار په حواله سره ذکر کړی دی، همدارنګه داهوال القبور په ٧٩ مخکې. منتها دغه حديث له کومو خبرو چې مخکې له دې څخه يی کړی، د دی حديث دساقط کيدلو په خاطر او دهغه نص له ليرکولو چې هغه دمتذکره کتاب له خطي نسخي څخه رانقل کړی ورته والی نه لري اوداخطی نسخه په کال ١١١٣ هجری کې ليکلی شوی ده. [مؤلف]

صلاة (درود)په رسول الله ﷺ باندی عرضه (وړاندې)کیږې اوصلاة هم داعمالو له جملې څخه دی.

امام احمد، ابو داود، النسائی، ابن ماجه، ابن خزیمه، ابن حبان او الحاکم په صحاحوکې اوامام البیهقی په حیاة الأنبیاء او شعب الإیمان، او غیر له دوي نه د حسین بن علی الجعفی عبد الرحمن بن یزید بن جابر ابی الأشعث الصنعانی له څخه تخریج کړی چې فرمایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: «أفضل أيَّامِكم الجمعَة فيه خُلِقَ آدمُ وفيه قُبِضَ وفيه النفخةُ وفيه الصعْقَةُ فأكْثِروا عليَّ منَ الصلاةِ فيهِ فإنَّ صلاتَكم معروضةٌ عليَّ. قالوا وكيفَ تُعْرَضُ صلاتُنَا عَلَيْكَ وقدْ أَرَمْتَ يَقُولون بَلِيتَ فقال إنَّ الله عز وجل حرَّمَ علَى الأرضِ أجسادَ الأنبياءِ»؛ «دتاسو غوره ورځ جمعه ده، په دي ورځ کې آدم علیه سلام پیدا شوی اوپه دې ورځ کې وفات شوی،

اوپه دي ورځ کې به صعقه، (یعنی دټولو انسانانو مړه کیدل) وي، نو په دې ورځ کې پرماباندې ډیر درود اوصلاة ووا یاست، ځکه چې دتاسی درود اوصلات ماته وړاندې کیږي. وې ویل: څه رنګه زمونږ صلات تاسوته عرضه کیږي په داسې حال کې چې دتابدن خرابیږی؟ او وایی چې په خاورو بدل شو. رسول الله وفرمایل: الله پاک پرزمکه حرام کړی چې دانباءو جسدونه له مینځه یوسي».

حاکم وایی: «د البخاری په شرط سره صحیح دی» او الذهبی هغه منلی اوحدیث یی تصحیح کړی دی، همدارنګه

ابن خزیمه، ابن حبان، عبد الغنی بن سعید او النووی په الأذکار او القرطبی په التذکرة او حافظ ابو الخطاب بن دحیة او غیر له دوی نه هغه صحیح بللی دی. او د دی حدیث لپاره بعضو علت او (مشکل) راوړی دی او ویلی یی دي چې: {دا حدیث له روایت د عبد الرحمن ابن یزید بن تمیم دی چې یوضعیف شخص دی، مګر اشتباها حسین الجعفی هغه د عبد الرحمن بن یزید بن جابر له روایاتو چې یو ثقه شخص دی ګرځولی دی} خو دا اشکال یی باطل دی بطلان یی حافظ دار قطنی بیان کړی دی او ویلی دی چې داحدیث حسین الجعفی

حقيقتاً له عبد الرحمن بن يزيد بن جابر نه پرته له دی چې کومه اشتباه را مينځ ته شي روايت کړی دی.

حافظ ابن عبد الهادی المقدسی په «الصارم المنکی»[1] کې وايي: {هغه څه چې حافظ ابو الحسن الدارقطنی ويلی حق ته نژدی اوصواب ته ورته دی اوهغه داچې حسين الجعفی له ابن جابرنه روايت کړی نه له ابن تميم څخه، څوک چې له ابن تميم نه روايت کووي دنيکه په نوم کې يی غلطې سره دچاره کيږی، ابو اسامه دی لکه څنګه چې اکثرتو دا ويلی دي، نو بنابردي دغه حديث چې حسين الجعفی له ابن جابر له ابی الأشعث له اوس نه روايت کړی دی، صحيح حديث دی له دې خاطره چې ټول راويان يی په صداقت امانت داري سره مشهور داعتماد(ثقه) اودعدالت وړ دی له همدې امله دحافظانو جماعت لکه ابی حاتم ابن حبان او حافظ عبد الغنی المقدسی ابن دحيه او غيرله دوی نه داحديث صحيح حديث بللی داسې څوک نشته چې د دی حديث په اړوند يی څه ويلی وي اوپه يوه ښکاره حجت سره يی هغه ته کوم علت ذکرکړی وي}. أه

ورپسی (عبد الهادی المقدسی) دهغو کسانو کلام چې داحديث معلل بلی کافی اندازه مناقشه کړی؛هغه ته مراجعه وکړي.

اوابن ماجه له ابی الدرداء څخه تخريج کړی چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَإِنَّهُ مَشْهُودٌ تَشْهَدُهُ الْمَلَائِكَةُ، وَإِنَّ أَحَدًا لَنْ يُصَلِّيَ عَلَيَّ إِلَّا عُرِضَتْ عَلَيَّ صَلَاتُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهَا، قَالَ: قُلْتُ: وَبَعْدَ الْمَوْتِ؟! قَالَ: وَبَعْدَ الْمَوْتِ، إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَنْ تَأْكُلَ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ. فَنَبِيُّ اللَّهِ حَيٌّ يُرْزَقُ»؛

«دجمعې په ورځ پرما درود ووايااست ځکه چې دجمعې ورځ مشهوده (ګواه شوی ده) چې ملائيکې په هغه کې حاضريږي، بيشکه هيڅوک پرمادرود نه وايی مګردا چې صلات يی ماته عرضه (وړاندې)کيږې ترهغه چې دصلات ويلو څخه فارغه شي. ابو الدرداء وايی: ومې ويل: له وفاته نه د روسته هم؟ وی فرمايل: له وفاته نه مې روسته هم په دې خاطر چې الله

۱- ص ۱۸۴.

پاک پرزمکه حرام کړی چې دانباو جسدونه دوخوري نو دالله رسول ژوندی دی هغه ته روزي ورکول کیږی». په همدی ډول سره ابن وهب په جامع کې یې هغه روایت کړی دی.

حافظ المنذری په الترغیب والترهیب کې وایی: «إسنادیی جیددي». او علامه سید السمهودی په وفاء الوفاء کې همدارنګه ویلی دی، او حافظ په تهذیب التهذیب کې فرمایی: «دهغه رجال ثقه دی»، خودسند انقطاع ته یی اشاره کړی ده.

شاګردیی حافظ السخاوی هم په القول البدیع کې دارنګه ویلی دي

او حافظ البوصیری هم انقطاع ته په اشارې سره صحیح بللی.

او حافظ ابن عبد الهادی المقدسی په «الصارم المنکی»[1] کې وایی: «دا حدیث اګرکه بعضی ایرادات لري اما دنورو احادیثو شاهد اوتقویه کوونکی دی». اه

وایو: داحدیث پرته له انقطاع څخه یی چې ورته اشاره وشوه نور مشکل نه لري اما دسند دتضعیف والی په خاطر یی هڅې دزید بن أیمن دجهالت دحال له وجې څخه مردود دی، ځکه ابن حبان هغه توثیق کړی دی اوذکر شوو حافظانو خصوصاً المنذری اوالعسقلانی، دا حدیث تصحیح کړی دی.

او ابو داود، النسائی او البیهقی په حیاة الأنبیاء او ابن نفیل په خپله معروفه جزء کې له طریق د عبد الله بن نافع له ابن ابی ذئب له سعید بن ابی سعید المقبری له ابی هریره څخه (تخریج کړی چې رسول الله وفرمایل: «لا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا وَلا تَجْعَلُوا قَبْرِي عِيدًا وَصَلُّوا عَلَيَّ فَإِنَّ صَلاتَكُمْ تَبْلُغُنِي حَيْثُ كُنْتُمْ»؛ «خپل کورونه مو قبرونه مه ګرځوي اوزما قبر دجشن اوتجمع محل مه ګرځوي پرما درود ووایاست ځکه هرچیرته چې یی دتاسې درود ماته را رسیږی».

رجال یی دثقاتوڅخه دی

---

[1]- ص ۱۸۸.

او ابن عبدالهادی په «الصارم المنکی»[1] له ابن تیمیه څخه نقل کړی چې وې ویل: اسنادیی حسن دی او النووی په الأذکار[2] کې هغه صحیح بللی دی.

او همدارنګه ابن ابی شیبه[3] او ابن مردویه له ابی هریره څخه راوړی چې وی ویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فإنها مَعْرُوضَةٌ عَلَيّ»؛ «دجمعې په ورځ پرمابانديې ډېر درود ووايی ځکه چې دتاسی صلات ماته عرضه (وړاندې) کيږی».

او ابو الشيخ خپل کتاب الثواب، کې له طريق د ابی معاويه له الأعمش له ابی صالح له ابی هريره څخه راوړی چې فرمايلی دی: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «مَنْ صَلَّى عَلَيَّ عِنْدَ قَبْرِي سَمِعْتُهُ، وَمَنْ صَلَّى عَلَيَّ مِن بَعيد أعلَمتُهُ»؛ «هرڅوک چې دقبر خواته مې پرما درود ووايی زه يی اورم اوهرڅوک چې دليرې پرما درود ووايی پرهغه پوهيږم». ابن القيم وايی: «[جداً] غريب دی»[4]، اما حافظ السخاوی له خپل شيخ حافظ ابن حجرنه را نقل کړی چې ويلی دی: «اسناديی جيد دی»[5]. اه

او طبرانی هم په «الأوسط»[6] کی وايی: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ فِي اللَّيْلَةِ الزَّهْرَاءِ وَالْيَوْمِ الْأَزْهَرِ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تُعْرَضُ عَلَيَّ»؛ «دجمعې په شپه او ورځ چې روښانه دی پرمابانديې زيات درود ووايی ځکه چې دتاسې درود

١- ص ١٧٤.

٢- ص ١٠٦.

٣- المصنف، ج ٢ ص ٢٥٤.

٤- جلاء الأفهام، ص ١٠٩ حديث (٣٣).

٥- القول البديع د السخاوی، ص ٢٢٧.

٦- ج ١ ص ١٨٣.

ماته عرضه كيږی». سنديی ضعيف دی، السخاوی وايی: «اماله شواهدو سره يی تقويه كيږي»[۱] اه

او عبد الرزاق له مجاهد له ابی طلحه نه تخريج كړی ده چې وی ويل: رسول الله ته ورغلم هغه مې خوشحاله وليد ومې ويل: ای دالله رسول! هيڅ كله مې تاسو تردې اندازی خوشحاله نه وي ليدلی؟ وی فرمايل: «وَمَا يَمْنَعُنِي وَجِبْرِيلُ خَرَجَ مِنْ عِنْدِي السَّاعَةَ، فَبَشَّرَنِي أَنَّ لِكُلِّ عَبْدٍ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً يُكْتَبُ لَهُ بِهَا عَشْرُ حَسَنَاتٍ، وَيُمْحَى عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ، وَيُرْفَعُ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ، وَتُعْرَضُ عَلَيَّ كَمَا قَالَهَا، وَيُرَدُّ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا دَعَا»؛ «ولی به خوشحاله نه يم په داسې حال كې چې جبرئيل همدا اوس لمانه لاړو اوماته يی زيری راكړ چې هرڅوک په ماباندې درود ووايی هغه ته لس نيكيانی ليكل كيږی اولس بدۍ تری پاكيږی اولس درجې پورته كيږي، اوپر كوم ډول يی چې پرما درود ويلی دی په هم هغه شكل سره ماته وړاندې كيږي اوپه كوم ډول يی چې دعا كړی ځواب يی وركووم». امام الحاكم په المستدرک[۲] او البيهقی په الشعب[۳] او حياة الأنبياء[٤] كی له طريقه د ابی رافع له سعيد المقبری له ابی مسعود الأنصاری نه تخريج كړی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَإِنَّهُ لَيْسَ يُصَلِّي عَلَيَّ أَحَدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَّا عُرِضَتْ عَلَيَّ صَلَاتُهُ»؛ «دجمعې برورځ پرماباندې زيات درود وواياست په دی خاطر هيڅوک نه دي چې دجمعی په ورځ پرمادی درود ووايی مګر داچې درود يی ماته عرضه (وړاندې) كيږې».

ابو رافع اسماعيل بن رافع المدنی دجمهوروپه نزد ضعيف دی، منتها البخاری هغه توثيق كړی دی او يعقوب بن سفيان يی احاديث دشواهدو اومتابعاتو په توګه وړ بلی او ابن المبارک

۱- القول البديع د السخاوی، ص ۲۲۷.

۲- ج ۲ ص ۴۵۷.

۳- ج ۳ ص ۱۱۰.

۴- ص ۹۰.

وايي: په هغه کې کوم اشکال نشته اوښايي چې حاکم دی پرهغه اعتماد درلودلی وی چې حديث يی صحيح ګڼلی و الله اعلم

او البيهقی له طريقه د حماد بن سلمه له برد بن سنان له مکحول الشامی له ابی امامه نه تخريج کړی چې وی ويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «أَكْثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِي كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ؛ فَإِنَّ صَلَاةَ أُمَّتِي تُعْرَضُ عَلَيَّ فِي كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ، فَمَنْ كَانَ أَكْثَرَهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً كَانَ أَقْرَبَهُمْ مِنِّي مَنْزِلَةً»؛ «دټولو جمعو پرورځو پرماباندې ډير درود ووايأست ولی چې دامت درود مې دټولو جمعو په ورځو مات عرضه (وړاندې) کيږی، اوهرڅوک چې ډير درود پرما ووايی، ماته نژدې (جايګاه) ځای اومنزلت لري»[1].

حافظ المنذری وايي: «اسناديی حسن دی بغير له دی نه چې ويل شوی مکحول له ابی امامه څخه سماع نه درلوده»[2] اه

او په الصارم المنکی[3] راغلی: «اسناديی جيد دی اوپه هغه کې ارسال رامينځ شوی ولی چې مکحول له ابی امامه څخه نه دی اوريدلی.

او حافظ السخاوی په «القول البديع»[4] کې وايي: البيهقی هغه – يعنی مذکوره حديث په حسن سند سره چې په هغه کې کوم اشکال نشته روايت کړی دی، بغير له دی نه چې ويل شوی دجمهورو دقول مطابق مکحول له ابی امامه نه سماع نه درلوده.

ليکن په مسند الشاميين کې له الطبرانی، له هغه نه يی پرسماع باندې تصريح شوی». اه.

١- شعب الإيمان، ج ٣ ص ١١٠ (٣٠٣٢).

٢- الترغيب والترهيب، ج ٢ ص ٥٠١ (٢٤٨٧)

٣- ص ٢٨١.

٤- ص ٢٣٣.

او المزی هم په «التهذیب»[۱] کې له ابی امامه څخه دمکحول سماع راجح بللی ده.[۲]

نو د دی مطابق سند به متصل اوحسن وی اودارنګه طبرانی[۳] به بل ضعیفه اسنادوسره له هغه نه راوړي چې وی ویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «مَن صلّى عليّ صلّى اللهُ عليه عَشْرًا مَلَكٌ مُوَكَّلٌ بها حتّى يُبَلِّغَنيها»؛ «هرڅوک چې پرما درود ووايي الله پاک پرهغه باندې لس صلات وایی او ملائیکه هغه صلات ته ټاکل شوی ترڅو چې هغه ماته رارسوي».

او محمد بن اسماعیل الوراق وایی: حبارة بن المغلس راته له ابو اسحاق حازم له یزید الرقاشی له انس نه وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تُعْرَضُ عَلَيَّ»؛ «دجمعې پرورځ پرما ډیر درود ووایی ولی چې دتاسی درود ماته عرضه کیږی». ابن القیم وایی: دا حدیث اګرکه ضعیف دی اما د شاهد په توګه یی راوړل ښه دی. او همدارنګه الطبرانی په الأوسط کې له انس نه روایت کړی چې ویلی دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صلاة واحدة بَلَغَتْنِي صَلَاتُهُ، وَصَلَّيْتُ عَلَيْهِ، وَكُتِبَتْ لَهُ سِوَى ذَلِكَ عَشْرُ حَسَنَاتٍ»؛ «هرڅوک چې پرمایو درود ووایی درود یی ماته را رسول کیږی اوپرهغه درود وایم علاوه له دې هغه ته لس نیکیانی هم لیکل کیږي». حافظ المنذری وایی: «په إسنادو کې اشکال نشته». اه.

او ابو یعلی یی په مسندکې له طریق دعبد الله بن نافع تخریج کړی چې ویلی دی: العلاء بن عبد الرحمن مونږ ته خبر راکړ وی ویل: وامې وریدل: الحسن بن علی بن ابی طالب ویلو: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «صَلُّوا فِي بُيُوتِكُمْ، لَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا، وَلَا

۱- ج ۴ ص ۴۶۴.

۲- حافظ ولی الدین العراقی در تحفة التحصیل صص ۳۱۴-۳۱۵ د امامان: ابن معین، البخاری، و الترمذی، سماع مکحول أبي أمامة واثلة بن الأسقع را ذکر کرده است.

۳- المعجم الکبیر، ج ۸ ص ۱۳۴ (۷۶۱۱).

تَتَّخِذُوا بَيْتِي عِيدًا، صَلُّوا عَلَيَّ وَسَلِّمُوا، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ وَسَلَامَكُمْ يَبْلُغُنِي أَيْنَمَا كُنْتُمْ»؛ «په کورونو کې مو لمونځ ادا کووي اوخپل کورونه مو قبرونه مه ګرځوي اوزما له کور څخه عیدګاه مه جوړوي اوپرماباندې صلات اوسلام ووايی ځکه هرچیرته چې یاست دتاسی صلات اوسلام ماته را رسیږی».

او الطبرانی په الکبیر او الأوسط کې له طریق د حمید بن ابی زینب څخه روایت کړی له حسن بن حسن بن علی بن ابی طالب علیهم السلام له پلار له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چې وی فرمایل: «حَيْثُمَا كُنْتُمْ فَصَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي»؛ «هرچیرته چې وي پرما باندې صلات ووایی د دی لپاره چې دتاسې صلات ماته را رسول کیږی». حافظ المنذری وایی: «إسنادیی حسن دی».

او قاضی ابو عبد الله الحسین بن اسماعیل المحاملی وایی: ابو حاتم الرازی روایت کړی ابن ابی مریم له محمد بن جعفر وی ویل چې حمید بن ابی جعفر راته له

الحسن ابن علی له پلار له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چې وی فرمایل: «حَيْثُمَا كُنْتُمْ فَصَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي»؛

«هرځای کې چې وې پرمادرودووایاست د دې په خاطر چې دتاسې صلات ماته را رسول کیږی».

او ابن ابی شیبه په المصنف کې لیکی: ابو خالد الأحمر راته له ابن عجلان له سهل له حسن بن حسن نه روایت کړی چې وی ویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «لَا تَتَّخِذُوا قَبْرِي عِيدًا، وَلَا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا، وَصَلُّوا عَلَيَّ حَيْثُمَا كُنْتُمْ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي»؛

«زما قبر عیدګاه مه ګرځوي اوله خپلو کورونو څخه قبرونه مه جوړ وي اوهرځای کې چې وي پرما درود ووایاست

ځکه چې دتاسې صلات ماته را رسول کیږی». اسنادیی صحیح دی لکه څنګه چې ښکاره ده دا حدیث مرسل حدیث دی مګر په حکم کې موصول دی، ځکه چې مخکې دحسن اوعلی رضی الله عنهما روایت راغلو.

او ابو یعلی وایی: ابو بکر بن ابی شیبه له زید بن الحباب له جعفر بن ابراهیم چې ذالجناحین زامن دی، له علی بن حسین څخه روایت کړی چې هغه (علی بن حسین) چې هغه یوکس ولیدو چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دکبرخواته په یوګوټ کې یی یوه سوري کې په دعا کولو باندې لږیا شو علی بن الحسین هغه ته وویل: آیاتاته له پلار له نیکه له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ونه وایم؟ چې وې فرمایل: «لَا تَتَّخِذُوا قَبْرِي عِيدًا، وَلَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا، وَسَلِّموا عَلَيَّ فَإِنَّ تَسْلِيمَكُمْ يَبْلُغُنِي أَيْنَمَا كُنْتُمْ»؛ «زما قبر د عیدګاه په توګه مه نیسي اوخپل کورونه هادره مه ګرځوي، اوپرماسلام ووایی ځکه هرچیرته چې یی دتاسې سلام ماته را رسول کیږی». حافظ السخاوی په القول البدیع کې وایی: حدیث حسن دی»

وایو: بلکه حافظ ابو عبد الله محمد بن عبد الواحد المقدسی دغه حدیث د «الأحادیث الصحیحة الزائدة علی الصحیحین»، کې تخریج کړی دی. حافظ عبد الهادی په الصارم المنکی کې وایی: دهغه شرط (المقدسی) په کتاب کې یی دحاکم له شرط څخه غوره دی.
او ابو الشیخ، البزار، الطبرانی او الحارث بن ابی اسامه و غیره د دوي نه له طریق د نعیم بن ضمضم نه تخریج کړی دی له ابی الحمیری له عمار بن یاسر چې وی ویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «إِنَّ لِلَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى مَلَكًا أَعْطَاهُ أَسْمَاءَ الْخَلَائِقِ، فَهُوَ قَائِمٌ عَلَى قَبْرِي إِذَا مُتُّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، فَلَيْسَ أَحَدٌ يُصَلِّي عَلَيَّ إِلَّا قَالَ: يَا مُحَمَّدُ، صَلَّى عَلَيْكَ فُلَانُ بنُ فُلان، قَالَ: فَيُصَلِّي الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى عَلَى ذَلِكَ الرَّجُلِ بِكُلِّ وَاحِدٍ عَشْرًا»؛ «بیشکه الله تبارک وتعالی ملائیکه لري چې ددخلائقو نومونه یی هغې ته عطا کړی دی، اوکله چې وفات شوم هغه ترقیامته زما پرقبرده هیڅ څوک نه دی چې پرما درود ووایی هغه پرښته وایی ای محمده!پلانکی دپلانکی زوی پرتاباندی درود ووایه، وایی: اوالله تبارک وتعالی دهغه دهر صلات په بدله کې پرهغه باندې لس درود وایی». امام منذری فرمایی: د نعیم بن ضمضم په

اړه اختلاف دی، امام ذهبی وایی: «بعضو هغه ضعیف بللی» او حافظ[1] په اللسان کې وایی: تردې مهاله چې چا هغه ضعیف بللی وی نه پیژنم. او د ابن الحمیری نوم، عمران دی، امام البخاری هغه لین (سست او ضعیف) بللی او ویلی یی دی چې حدیث نه متابعت کېږې. او ابن حبان هغه په ثقاتو کې راوړی او باقی رجال دحدیث صحیح دی لکه څنګه چې امام هیثمی ویلی دي.

امام احمد، النسائی، الدارمی، ابو نعیم، البیهقی، الخلعی او غیر له دوی نه له عبد الله بن مسعودنه (تخریج کړی دی چې وی ویل: «إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ، يُبَلِّغُونِي عَنْ أُمَّتِي السَّلَامَ»؛ «بیشکه چې الله پاک پرشتې لری چې په زمکه کې ګرځیږی، اودامت سلام مې ماته را رسوي». ابن حبان او حاکم هغه صحیح بللی دی.

او ابن عدی دابن عباس له حدیث نه ورته روایت کړی دی. او دیلمی په مسند الفردوس کې وایی: پلار مې ماته له ابو الفضل الکرابیسی نه له ابو العباس بن ترکان نه خبر راکړ چې وې ویل: موسی بن سعید راته وویل له احمد بن حماد بن سفیان نه چې وې ویل: محمد بن عبد الله بن صالح المروزی راته وویل له ابکربن خداش نه له فطربن خلیفه له ابی طفیل له ابی بکر صدیق نه چې ویل یی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ، فَإِنَّ اللهَ وَكَّلَ بِي مَلَكاً عِنْدَ قَبْرِي، فَإِذَا صَلَّى عَلَيَّ رَجُلٌ مِنْ أُمَّتِي، قَالَ لِي ذَلِكَ الْمَلَكُ: يَا مُحَمَّدُ! إِنَّ فُلَانَ ابْنَ فُلَانٍ صَلَّى عَلَيْكَ السَّاعَةَ»؛ «پرماباندې ډېر درود ووایی ځکه چې الله

۱- کله چې دحافظ یا شیخ الاسلام لفظ په مطلق ډول سره وکارول شي دمحدثینو په عرف کې مراد تری حافظ ابن حجر عسقلانی د فتح الباری، تهذیب التهذیب ا و لسان المیزان لیکوال دی، هغه داطلاعاتو په حفظ او وسعت کې درجالودعللو او معرفت کې یو اعجوبه وو تردی چې په علم حدیثو کې امیرالمؤمنین ونومول شو. دا دډیر تعجب ځای دی دهغو لپاره چې په دی هڅه کې دی چې دهغه له رتبی اودرجی څخه راکم کړی! یا دمتأخر حنفیه و څخه دهغه په درجه اومنزلت کې راولی او عجیب تره خویی لا داده چې، د «البدر» او «الشهاب» دوه لقبونه د دی نومونو دخاوند ته دعلم دتفاوت دلیل بلی تراوسه مو لیدلی دی چې القاب د دخاوند پرعلم اوفضل باندی دلیل وی؟ [مؤلف]

پاک زما برقبرباندې یوه پرښته مقرره کړی کله چې له امت څخه مې یوکس پرما درود ووایی هغه پرښته ماته وایی: ای محمد! پلانکی دپلانکی زوی اوس پرتا باندی درود ووایه». د دی په سند کې ضعف دی لکه څنکه چې حافظ سخاوی فرمایلی دی: او حافظ ابن بشکوال په ضعیف سندسره – څرنګه چې حافظ السخاوی فرمایلی – له عمرنه (تخریج کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «أَكْثِرُوا الصّلاةَ عَلَيّ فِي اللّيْلَةِ الزّهْرَاءِ وَالْيَوْمِ الأَغَرّ فَإِنّ صَلاتَكُمْ تُعْرَضُ عَلَيّ فادْعُو لَكُم واستغفر»؛ «په نورانی شپه او زلیدونکې ورځ کې پرماباندې زیات درود ووایی ځکه چې دتاسی درود ویل ماته عرضه (وړاندې) کیږی اوتاسوته دعا او استغفار کووم».

اللّيْلَةِ الزّهْرَاءِ: دجمعی شپه ده

او الْيَوْمِ الأَغَر: دجمعې ورځ ده.

او ابن راهویه، الحرفی، ابن بشران او البیهقی له ابن عباس نه تخریج کړی چې وی ویل: «لَيْسَ أَحَدٌ مِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ، صلى الله عليه وسلم، صَلَّى عَلَيْهِ صَلَاةً إِلَّا وَهِيَ تَبْلُغُهُ، يَقُولُ له الْمَلَكُ: فُلَانٌ يُصَلِّي عَلَيْكَ كَذَا وَكَذَا صَلَاةً»؛ «دمحمد صلی الله علیه وسلم دامت څخه هیڅوک نشته چې په رسول الله باندې یودرود ووایی مګر داچې هغه درود یی رسول الله ته رسول کیږی پرښته رسول الله ته وایی:

پلانکی داسی اوهسی درود ووایه». موقوفا یی اسناد صحیح اوحکم دمرفوع لری په دې خاطر چې داسې څه په رایه اواجتهاد سره نه پیژندل کیږې.

ابی قرصافه صحابی

حافظ ابو عبد الله المقدسی په المختارة کښ فرمایی چې: په اصفهان کښ مونږ ته ابو عبد الله محمد بن معمر خبر راکړ چې

جعفر بن عبد الواحد داجازی په صورت سره هغه ته خبرورکړ چې ابو القاسم عبد الرحمن بن محمد بن احمد بن عبد الرحمن الهمدانی مونږته خبرارکړ، ابو محمد عبد الله بن جعفر بن حیان – چې همهغه ابو الشیخ دی – مونږته خبر راکړ، اسحاق بن اسماعیل راته وویل له آدم بن ابی ایاس له محمد بن نشر له محمد بن عامر له ابو قرصافه[1] جندره {او ابی قرصافه صحابی وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم برنس (هغه جامه چې خوله لری) هغه ته ور اغوستلی وه اوخلک دهغه خواته راتلل اوهغه هم خلکوته دعاکولی اودبرکت غوښتنه یی ورته کوله اودالله برکت هم په هغو کی لیدل کیدل. او ابی قرصافه یو زوی درلود چې په روم کښ یې غزا کوله اوابو قرصافه به سهار په عسقلان کښ په لوړ آواز سره غږکوولو چې ای قرصافه، الصلاة (لمونځ) اوقرصافه به هم دروم پرزمکه ویل چې لبیک ای پلارجانه! اوملګرو به یی قرصافه ته ویل افسوس دوی پرتا چاته غږ کووي؟قرصافه به ویل: پلارته مې (غږ کوم) قسم دکعبی په رب سره چې پلارمې دسهار لمانځه ته را پاڅوي}

راوړی دی چې ابو قرصافه وویل: اوریدلی مې دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: «مَن أَوَى إلى فراشِه ثمَّ قرأَ سورة تَبَارَكَ ثمَّ قالَ اللَّهمَّ ربَّ الحلِّ والحرمِ وربَّ البلدِ الحرامِ وربَّ الركنِ والمقامِ وربَّ المشعرِ الحرامِ بحقِّ كلِّ آيةٍ أنزلتَها في شهرِ رمضانَ بلِّغْ روحَ محمَّدٍ صلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّمَ منِّي تحيةً وسلامًا أربعَ مرَّاتٍ وكَّلَ اللهُ به المَلكَينِ حتَّى يأتيا محمَّدًا فيقولان لهُ ذلك. فيقولُ وعلَى فلانٍ منِّي السَّلامُ ورحمةُ اللهِ وبركاتُه»؛

۱– قرصافه: دقاف پرکس اوسکون د راء، او جندرة: په فتح دجیم او دال سکون دنون سره هغه ابو قرصافه جندره بن خشینه په فتح دخاء اوشین سره دی داهل کنانه و څخه صحابی دی. ابن حبان وایی: چې قبریې په عسقلان کښ دی.

«هرڅوک چې دخوب بسترته لاړ شي اوبيا د تبارک (ملک) سورة ولولی او بيا څلور ځلی ووايي: يا الهی! ای دحلال او حرامو پروردګاره!، اوای د بلدالحرام پروردګاره!، او ای درکن اومقام پروردګاره!، او ای معشرالحرام پروردګاره!، دهر رانازل کړی آيت په حق سره دی درمضان په مياشت کې زما تحيت اوسلام دمحمد صلی الله عليه وسلم روح ته ورسوه الله پاک پرهغه سلام باندې يی دوه پرښتې ګوماری تردی چې هغه سلام محمد صلی الله عليه وسلم ته راوړی اوسلام يی رسول الله ته وايی. او رسول الله صلی الله عليه وسلم هم فرمايي: زما لخوانه دی هم پر پلانکی باندی سلام دالله رحمت اوبرکات وی». حافظ المقدسی فرمايي: «داحديث له دی طريق نه پرته نه پيژنم او جدا غريب دی او په راويانو کې داسی کسان دی چې دهغوي په اړه کلام شوی دی». اه. او ابن القيم وايی چې: «معروف دی چې دا دابو جعفر الباقر له ويناو څخه دی اودا هغه ته ورته دی». اه.

داسی احاديث په رايه او اجتهاد سره نشی درک کيدلی، نو ځان ته دمرفوع حکم غوره کووي.

او سعيد بن منصور په سنن کې يی وايی: حبان بن علی راته وويل، محمد بن عجلان له ابی سعيد مولی المهری نه وی ويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «لَا تَتَّخِذُوا بَيْتِي عِيدًا، وَلَا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا، وَصَلُّوا عَلَيَّ حَيْثُمَا كُنْتُمْ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي»؛

«زما کور (خپله) عيدګاهی مه ګرځوي اوخپل کورونه قبرونه مه ګرځوي اوهرچيرته چې وي پرما درود ووايی ځکه چې دتاسی صلات ماته را رسول کيږی».

او اسماعيل القاضی فرمايي: سالم بن سليمان الضبی له ابو حره له الحسن نه راته وويل چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «أَكْثِرُوا عَلَيَّ الصَّلَاةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَإِنَّهَا تُعْرَضُ عَلَيَّ»؛ «دجمعې پر ورځ پرماباندې زيات درود ووايی ځکه چې دتاسی درود ماته عرضه کيږی».

او دارنګه له ابراهيم بن الحجاج نه روايت شوی دی له وهيب له ايوب نه چې وی ويل: و الله اعلم ماته را رسيدلی يوه پرښته موکله شوی چې هرڅوک په رسول الله باندې درود ووايی نوهغه رسول الله ته رسوي.

او قاضي اسماعيل هم وايي: عبد الرحمن بن واقد العطار راته وويل له هشيم له حصين بن عبد الرحمن له يزيد الرقاشي نه چې وی ویل: «بیشکه دجمعې په ورځ پرهغو کسانو چې په رسول الله باندې درود وايي يوه پربښته موظفه کيږی ترڅوچې صلات يي رسول الله ته ورسوي او وايي: پلانکی له امت څخه دی پرتاباندی صلوات وایی».

دا اثر: سعید بن منصور په خپل سنن کې او بقی بن مخلد او دهغه له طريق ابن بشکوال روایت کړی دی منتها بدون له ذکر دجمعې دورځې نه.

او سعید بن منصور په خپل سنن کې له خالد بن معدان نه تخريج کړی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ فِي كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ؛ فَإِنَّ صَلَاةَ أُمَّتِي تُعْرَضُ عَلَيَّ فِي كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ»؛ «دټولو جمعې په ورځو کې پرماباندې زيات درود واياست ځکه چې دامت درود مې دټولو جمعو په ورځو ماته عرضه کيږی».

او النميری له حماد الكوفي نه تخريج کړی چې وی ویل: «بیشکه کله چې یوبنده په رسول الله باندې درود وايي، درود يي دهغه کس له نوم سره رسول الله ته عرضه (وړاندې) کيږې».

له دغو احاديثو او اثارو څخه چې شمير يي له پنځلسو څخه زيات دی داسی حاصليږی چې زمونږ صلات اوسلام رسول الله ته عرضه کيږی.

د«حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ»، حديث دمسلم په شرط سره صحيح دی

په دې کې هیڅ شک نشته چې زمونږ «صلوات» او «سلام» دامت داعمالو له جملې څخه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرضه (وړاندې) کیږی نو د دې شواهیدو سره سره چې د «حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ» حدیث تائید اوتقویه کووی څه رنګه کولی شو چې له دې حدیث څخه انکار وکړو؟ که چیرته داحدیث ضعیف وی هم وی نو دشواهدو په درلودلو سره یې دقبول درجې ته رسیږی څنګه به داسې نه وې دا حدیث پرته دشواهدو له درلودلو څخه یې ځان ته هم دمسلم په شرط سره صحیح حدیث دی، څه رنګه موچې مخکې و ویل او دارنګه دعلم حدیث اواصولو علماؤ مقرره کړی چې مرسل حدیث که له نورو طروق چې ضعیف دی روایت شی دهغو مجموعه صحیح ګرځي اوپرهغوباندې حجت اقامه اوعمل پری لازمې کیږی که چیرته دابن مسعود له طریق چې صحیح طریق دی صرف نظر وکړو او دبکر بن المزنی را واخلو اودانس دوه احادیث ورسره ضمیمه کړو بیاهم حدیث صحیح کیږی. او دا په هغه حالت کې دی چې دجمهورو دقول مطابق مو عمل کړی وی چې وایی: مرسل حدیث ضعیف دی، پرهغه باندې عمل نه کیږی مگر په هغه صورت کې نور روایات چې هغه تائید کړی روایت شوې وی؛لکه څنګه چې تیرشول. اوکه دحنفیه اومالکه ؤ دقول مطابق مو عمل کړی وی چې وایی: مرسل حدیث په تنهایی سره صحیح اودعمل وړدی، وضعیت یی فرق کووی. او العراقی په الفیه کې یی په دې بیت سره له هغه نه یادونه کړی:

واحتج مالك كذا النعمان به وتابعوهما ودانو

«مالک اودارنګه نعمان په هغه احتجاج کړی دی اوله دوی دوه وو تبعیت شوی برهغه یی عمل کړی».

مرسل دمالکیه او حنفیه ؤ په نزد حجت دی:

نو دبکر المزنی حدیث په تنهایی سره صحیح اوپرهغه باندې حجت لازمیږی په دې خاطر چې دوه اسناده لری چې یو یی حافظ عبدالهادی صحیح بللی

چې په دې باب کې د سخت گیری له شدیت ترینه دخلکو څخه دی. مگر عجیبه دادی چې هغه داحدیث په خپل کتاب کې صحیح بللی چې هغه کتاب یی دامام السبکی په رد اودابن تیمیه په دفاع کې لیکلی دی، اودهغه تصحیح مو مخکې رانقل کړه. مقصود دادی چې دا حدیث په ټولو هغو اصطلاحاتو سره چې مقررې شوی دی صحیح دی، او زه له هغو کسانو څخه دحق دنه قبلولو دمخې چې انکارکووی چلنچ ورکوم چې داحادیثو یا اصولو دقواعدو مطابق کوم څه چې د دې حدیث دجعل والی او وضع والی اقتضاء کووي راوړي، او داسې کس چې علمی بحث ته ملتزم وی نشی کولی داسې کار وکړي. کړنه دحق اوانصاف لار ده. اما په نصوصو کې درواغ ویل اودخبرو تحریف مخالف ته کنځلی کول دا بیا هغه کاردی چې هرڅوک یی کولی شي چې ترسره یی کړی، اوپه دی ډگرکې چالاک ترینه دخلکو دسفاهت اوکنځلو کوولو ډگر کې جاهل ترینه اودفاضله اخلاقو څخه لیری ترینه دهغودی، نو زما مخالف چې هرڅه غواړی زما په اړه د وواییی اوڅه رنگه چې غواړی پاڼې دتورې کړی مگر مونږ په هغه ډگر کې چې چالاکی کووي هیڅ کله نه داخلیږو اوله خپلو غوښتنو اوموخو څخه هم نه په شاه کیږو اوهغه فقط یوشی دی چې د دي حدیث جعلی والی دی په علمی طریقې سره بیان کړي دا هغه څه دي چې بحمدالله نه یی شي کولی چې ترسره یی کړی. او الله دی چې رېښتیا خبرې کووي او سمې لارې ته هدایت ورکووي.

باب: دی پرحدیث باندې د وارده اعتراضاتو رد کې.

د دی حدیث دښمنانو په دې حدیث باندې اعتراضات وارد کړی دي دغه اعتراضات مو د دوي په مجالسو کې د دوې له بعضو څخه اوریدلی اوپه را روسته کې مو د دوی په صحیفو کې لوستلی دی او پردغو دواړه حالاتو کې پردغو اعتراضاتو باندی زمونږ له موسکا او دهغوی پرحال مو د زړه سوی څخه پرته بل څه نه دی اضافه شوی ځکه چې د دوی دغه اعتراضات هغه چاته ورته دې چې دتبی له شدت څخه ریږدی اوسور شوی وی په دی حال کې مونږ دهغوی حق وړوکی نه بلو. په رېښتیا سره هغه حق د دوی یو اراد دی چې دبحث له قواعدو سره اړخ لري او هغه اراد دتعارض په باب کې واردیږی له همدې امله مو دغه باب دهمدې موضوع په اړه غوره کړ اوکوم څه چې د ډیرو خلکو پروړاندې پټ دی روښانه کړو.

د دی وضاحت دادی چې دوي دحوض حدیث ذکر کووي کوم چې په «صحیحینو»[1] کې راغلی دهغه حدیث خلاصه داسی ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: «یَرِدُ عَلَيَّ يَوْمَ القِيَامَةِ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِي، فَيُحَلَّئُونَ عَنِ الحَوْضِ، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ أَصْحَابِي، فَيَقُولُ: إِنَّكَ لاَ عِلْمَ لَكَ بِمَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ، إِنَّهُمُ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِمْ القَهْقَرَى»؛ «دقیامت په ورځ کې رهط (درې یالس کسیزه ډله) زما داصحابو پر مابانذی (ماته راځي) له حوض څخه واپس ګرځول کیږي؛ زه وایم چې ای پروردګاره!دا زما یاران دي الله تبارک وتعالی فرمایی ته نه پوهیږې چې دوي روسته لتانه څه کارونه وکړل دوی روسته لتانه واپس پرشاه وګرځیدل» او په یوه روایت کې اضافه شوي چې: «سُحْقًا لِمَنْ بَدَّلَ بَعْدِي سُحْقًا لِمَنْ بَدَّلَ بَعْدِي»؛ «هلاکت د وي دهغه چالپاره چې روسته له مانه بدل شول».

۱- صحیح البخاری (باب فی الحوض) ج ۴ ص ۲۰۶ حدیث (۶۵۸۵) و صحیح مسلم باب (إثبات حوض النبي وصفته) ج ۴ ص ۱۷۹۳ حدیث (۲۲۹۱).

دا د حوض دحديث خلاصه ده چې مختلف الفاظ اوطرق په «صحيحينو»[1] کې لري په الله قسم چې دا اعتراض د دوی له قوی ترینه اعتراضونو څخه یی دی، بلکې په حقیقت کې اصلا بل اعتراض بغیر له دې اعتراض څخه لري نه دوي بیا دی حدیث ته داسې توضیح ورکووی او وایی: «کله چې دصحابهؤ په حال باندې چې هغه یی پیژندل او دوې هغه پیژندلو جاهل (ناخبره) وو نو دنور پرحال باندې خو په طریق داولی جاهل (ناخبره) دی نو څه رنګه ګومان کووي چې دامت اعمال هغه ته عرضه کیږی؟». دا یی دیوتن خبره چې په الازهر کې واعض دی دهغه خبره ده چې هغه مو دلته رانقل کړله ترڅو لوستونکي یی ووینی چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په شأن کې یې څه رنګه زشت اونهایتا کستاخانه الفاظ کارولی دی؛د دې پرځای چې دې واعض ویلی وای:

«کله چې داصحابو پرحال یی علم نلرلو...» په دې توګه سره به درسول الله په شأن کې مؤدب وو اودهغه حدیث له عبارت سره چې ده پرې استدلال کړی دی هم موافق وو منتها دهغه لفظ پرځایی

«جهل» په ذات را وړی دی نو لوستونکی به له هغه نه پر څه شي پوه اوبرداشت وکړی؟ دی ته ورته خبري دځنی نورو یی دی چې وایی: «د حوض حدیث، د «حَيَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ» حدیث په لغطې سره وهی یایی په چپله باندې ولی. په علمي مناقشو کې یی داسی ادابوته وګوري! اوبیا چې څه رنګه غواړي په اړه یی حکم وکړه!

لکه څنګه مو چې وویلو دحوض حدیث صحیح حدیث، که مو چیرته دهغوي په خیرغوښتلی چې جعل کاری وکړو کولی مو شول چې داحدیث مو سره له صحت یی رد کړی وای په دي اړه سلیمه او قوی طریقه لرو چې بیان یی دباب په آخیرکې راغلی دی مګر له دې مغالطی اوفریب کاري څخه الله ته پنا وړم بلکې داحادیثو دمقرره قواعدو مطابق ورته ځواب وایم او دوړوکې مقدمې په ډول پیل او وایو:

۱- نګاه کن به: صحیح البخاری ج ۲ ص ۴۹۰ حدیث (۳۴۴۷)، ج ۲ ص ۱۹۶ حدیث (۶۵۲۶)، ج ۲ ص ۳۱۲ حدیث (۷۰۵۰-۷۰۵۱) و صحیح مسلم صص ۱۷۹۲-۱۷۹۵ حدیث (۲۲۸۹/۲۲۹۵).

د دوه متعارضو دلایلو ترمینځ جمع کول واجب دي:

دهغه چا لپاره چې داحادیثو دعلوموا‌و اصولو څخه یی څه لوستلی وي په دی باندې پوهیږی چې کله د دوه دلایلو ترمینځ تعارض راشي هغه محقیق کس چې د دلیل په لټه کې دی لومړی: ګوری چې آیا د دوی ترمینځ دجمعې امکان شته؟ که چیرته د دواړو ترمینځ دجمع کولو امکان وو نو واجب دی چې داسی وکړی، ځکه په دې صورت کې په دواړه دلایلو باندې عمل اوتبعیت کیږی اوسمه نه ده چې یوه ته له دغو دوه دلایلو څخه پربل باندې ترجیح ورکړل شی، ځک په دا کار یو له دوه دلایلو څخه اهمال کیږی اوهغه الغاء ګرځي . داسی یو څه جایز نه دي.

که د دوه دلایلو له جمع کولو نه معذور شو او په هیڅ وجه دوجوهاتو دهغو دوه دلایلوترمینځ دجمع امکان نه وو په دي وخت کې دترجیح مرحلی ته منتقل کیږی او قوی ترینه یی پربل باندې مقدمه کووي. که چیرته په قوت کې یی سره مساوي وو او یو هم دهغو دبل ناسخ نه وو دواړه پریږدې بغیر له دی نه بل دلیل پسې به ځي ، دامسئله هرمحقق اوطالب العلم ته څرکنده ده اودعلماؤ عمل پرداسې څه باندې له صحابه تابعینو وغیره وو نه مستقر شوی دی، آیا نه وینی چې

ابی بکر الصدیق (څه رنګه درسول الله له میراث څخه فاطمې ته دورکولو نه ډډه کووي سره له دې چې فاطمه په دې آیت کریمه باندې استدلال کولو: ﴿يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡ﴾ [النساء: ١١]

«الله دوالادونو په اړه موتاسو ته سپارښتنه کووي». او ابوبکر رضی الله دا آیت کریمه درسول الله په دې وینا سره تخصیص کړه: «لا نُورِّثُ ما تَرَكْناهُ صَدَقَةٌ»؛ مونږ پیغمبران ارث نه پریږدو هغه څه مو چې پرېښدل صدقه ده»

لکه څنګه چې په صحیحینو کې راغلی دی.

څه رنګه چې وینی ابوبکر صدیق د دوه دلایلو ترمینځ (جمع کړلو داسی چې قرآن یی په حدیث باندې تخصیص کړهغه کولی شول چې یواځې قرآن باندې عمل وکړی اوغیره له

قرآن څخه نور پريږدي) لکه څنګه چې ننی مبتدعين يی کووي، منتها ديوه صحيح دليل الغاء پرته له کوم شرعی مجوز څخه حرام دی.

دی ته ورته مثالونه داحاديثو او اصولو په کتابونو کې ډيردی چې ذکر کول يی طولانی کيږی مونږ يوائې دامثال کوم څه موچې مخکې ووېل دتوضح په خاطر راوړو. نو له دی لنډې مقدمې څخه روسته وايو چې: داعمالو دعرضه کيدلو دحديث او دحوض حديث ترمينځ هيڅ تعارض اوتناقض نشته ، اوبيان يی له څو وجوڅخه دی.

دحوض دحديث په نسبت ځواب په څلورو وجهو سره دی.

لومړي وجهه: دحوض حديث دمرتدانو په اړه دی، امام بخاری له قبيصه نه دهغو کسانو په اړه چې له حوض څخه ګرځول کيږی فرمايي: «هُمُ الْمُرْتَدُّونَ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَى عَهْدِ أَبِي بَكْرٍ فَقَاتَلَهُمْ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ»؛

«هغوی مرتدان وو چې دابوبکر په زمانه کې مرتد شول اوابوبکر له دوی سره وجنګيده».

او حافظ په الفتح کې د رسول الله د دی وينا په اړه چې فرمايي: «إِنَّهُمُ ارْتَدُّوا» وايی اونص هغه رنګه دی: «هَذَا يُوَافِقُ تَفْسِيرَ قَبِيصَةَ الْمَاضِي فِي بَابُ كَيْفَ الْحَشْرُ»؛ «دا دقبيصه دتفسير سره موافق دی». اه

په دې کې شک نشته چې له رسول الله سره دمرتدانو دصلی او ارتباط دقطع کيدو اودکفر له امله، والعياذ بالله تعالی، اعمال يی رسول الله ته نه عرضه کيږی، نوکله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دوی را غواړی او وايی: ای پروردګارا! اصحاب مې، داسې ګومان کووی چې دويی پرهغه څه باندې چې پرېښودی وو همهغه شان دی الله پاک خبرورکووی چې دوي لتانه روسته مرتد شول اوله تاسره يی اړيکی پری دي. اما داعمالو دعرضه کيدلو حديث دامت دمؤمنانو په اړه يی دی ځکه چې استغفار دغيرمؤمن لپاره جايز نه دی؛ لکه څنګه چې په قرآن کې راغلی دی.

دوهمه وجه: دحوض حديث خاص دی او داعمالو دعرضه کيدلو حديث عام دی نو اولېنی مخصص د دوهم دی توضيح يی داسی ده چې: لومړی حديث له يوې ټولګې دامت نه يی خبر ورکووی چې له حوض څخه ګرځول کيږی او دوهم حديث دا بيان وی چې دامت اعمال يی رسول الله ته په قبرکې وړاندې کيږي

نو دا حديث له لومړی حديث سره مخصص کوو چې معنايی داسې کيږی: دامت ټول اعمال رسول الله ته وړاندې کيږی مګر دامت دهغې طايفی چې رسول الله ته يی اعمال نه عرضه کيږی الله پاک غوښتی چې وعيد يی دهغو په حق کې نافذ شی، له همدې امله دی کله چې رسول الله دوی دحوض خواته رابلی هغه ته ويل کيږی: ته نه پوهېږې چې پس لتانه يی

څه کارونه وکړل ځکه چې د دوی اعمال دنورو له اعمالو سره چې تاته وړاندې کیدل وړاندې شوی نه دی. کله چې ټول عامو خاص سره یوځای کیږی حال یی داسی دی، داچې عام پرخاص باندی تخصیص مومي نو دواړه دلایل هم سره موافق کیږي

او یقینا دحوض حدیث دوه امرونو ته مخصوص شوی دی: داچې په روایاتو کې راغلی کسان، خلک، اقوام، او دا رهط ته ورګرځي اودا بیا نا پیژانده ډلی دی چې داثبات په سیاق کې واقع شوی دی . او اصولی قاعدهٔ وایي: دسیاق په ثبات کې چې دمنکر جمع واقع شوی ده عام نه وي. دوهم: مونږبالضرور پوهیږو چې ټول امت له حوض څخه نه راګرځول کیږي بلکې یواځې یوه طائیفه ترې راګرځول کیږی اودخصوص معنا همدا ده.

خو داعمالو دعرضه کیدلو حدیث عام دی ځکه چې لفظ د «أَعْمَالُكُمْ» یی په دي وینا کې د: «تُعْرَضُ عَلَيَّ أَعْمَالُكُمْ» جمع دمضاف ده او اصولی قاعدهٔ وایي: الفاظ دجمعی چې اضافه شوی وي، دعموم له صیغو څخه دی (اودعام پر معنا باندې دلالت لري) چې حقیقتا دهغو لپاره د(عموم) معنا وضع شوی ده.

دریمه وجه: داعمالو عرضهٔ کیدل په اجمالی صورت سره دي او استغفار هم په اجمالی توګه سره دی، په دي ډول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ویل کیږی: امت دی داسی اوهسی له اطاعت څخه دی ترسره کړی او داسی اوهسی له معاصیو څخه مرتکب شوی نودلته دی چې دطاعت په کولو دالله څخه حمد وایی اوګنا ګانو دترسره کولو په خاطریی مغفرت غواړي لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ﴾ [محمد: ١٩] «او دخپلو ګناهونو اودنارینه اوزنانه مؤمنانو د ګناهونو لپاره مغفرت وغواړه».

اما دا وینایی دحوض په حدیث کې چې: «لَا تَدرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ»؛ «نه پوهیږی چې روسته لتا یی څه وکړل»، معنای داده چې دهغوی په نسبت په تفصیلی توګه له فرد فرد دهغونه نه پوهیږی چې څه یی وکړل، بلکه یواځې په اجمالی توګه پوهیږې کوم څه چې دا وجه حق ته نژدې اوتوضیح کووي یې دادی چې هریو له مونږه نه د ورځ پاڼو مجلو او هر رسنیزو شبکو او اخبارو څخه اوری او وینی یی په اجمالی توګه د دنیا په حال باندې پوهیږی

خو دهرفرد اوهر هيواد په اړه په تفصيلی ډول سره نه پوهيږی، همدا شان کله چې يو له مونږ څخه وايي: بارالهی دمحمد صلی الله عليه وسلم امّت وبښه، د دی معنا دا نه ده چې دمغفرت دعا په حدّت (او شدت سره يی) ټولو افرادو ته متوجه ده، او دا په نهايت وضوح کې ده.

څلورمه وجه: داعمالو دعرضه کيدلو حديث دا را ښه يی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم نفس داعمالو له طاعت اومعاصي څخه پيژنی اوپوهيږی چې دغه اعمال يی امت ته منسوب دی، لکين نه پوهيږی چې داعمل دپلانکی عمل اوهغه عمل دپلانکی عمل دی، د اچې دعمل دپيژندلو نه دعمل کوونکی پيژندل نه لازميږې. اودحوض حديث دا راښه يی چې رسول الله هغه ډله چې بيرته ګرځول کيږی نه پيژني چې آيا صالحان دی اوکه ناصالحان دی ، دا له دی سره منافات نلری چې رسول الله پوهيږې چې امت يی له صالحه او سيئه اعمالو سره پرهغه څه چې دته عرضه شوی راځی. توضيح: مثلا يوکس په ځنی ورځ پاڼو کې بعضی صالح اعمال لکه صدقات تبرعات وينی چې يومعين کس ته نه دی منسوب شوی اوهغه دغه اعمال خوښوی اوترسره کونکی يی په نيکی سره يادوی ممکن دی چې په مجلس کې يی ټول يا ځنی يی شتون ولري خودی نه پوهيږی چې دا کسان دهغو اعمالو ترسره کوونکي دي کوم چې ده يی مدحه کړی اوستايلې دي. اودسيئه اعمالو په اړه هم همداسې ده ځکه کس نه پوهيږي چې چا دغه اعمال ترسره کړی

په دی خاطر چې ده يواځې اعمال ليدلی پرته له دي چې يومعين کس ته منسوب وي.

نوکله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه رهط دحوض خواته غوښتلو اوهغوي بيرت ګرځول کيږی اورسول الله ته ويلی کيږی چې: ته نه پوهيږی چې بعد لتا يی څه کړی، يعنی هغه بد کارونه چې تاته عرضه کيدل ته نه پوهيدلی چې هغه کارونه د دوي يعنی درهط له ډلی څخه ترسره شوي دی. نو د دغو وجوهو په وسيلې سره حتی ديوی وجهی دوجوهاتو څخه دغه اشکال رفع کيږی اواصلا د دغودوه احاديثو ترمينځ تعارض نه پاتی کيږی . که وروسته له دی نه څوک دتعارض په درلودلو باندې اصرار کووي او له دی دوه احاديثو څخه دحوض حديث غوره او داعمالو دعرضه کيدلو حديث رد کړی

نو هغه مکابر اومعاند دی چې درسول الله داخبره پری منطبق کیږی چې فرمایی: «الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ، وَغَمْطُ النَّاسِ»؛ «کبرله حق نه انکار اودخلکو تحقیراوتوهین دی» هرڅوک چې دی حد ته ورسیږی نو له داسې خلکو سره بحث اوخبرې کول بی فایدې دي فقط دملامتیا غشی هغه ته متوجه دی.

نکته: کله چې حافظ په «فتح الباری»[1] کې دحوض دحدیث په اړه خبری کووي په دې لړ کې داعمالو دعرضه کیدلو دحدیث صحت ته هم اشاره کووي داچې داسې څه یو ثابت شوی اومقر امر دی. نص دکلامی یی داسی دی: «وَقَالَ غَيْرُهُ قِيلَ هُوَ عَلَى ظَاهِرِهِ مِنَ الْكُفْرِ وَالْمُرَادُ بِأُمَّتِي أُمَّةُ الدَّعْوَةِ لَا أُمَّةُ الْإِجَابَةِ وَرُجِّحَ بِقَوْلِهِ فِي حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ فَأَقُولُ بُعْدًا لَهُمْ وَسُحْقًا وَيُؤَيِّدُهُ كَوْنُهُمْ خَفِيَ عَلَيْهِ حَالُهُمْ وَلَوْ كَانُوا مِنْ أُمَّةِ الْإِجَابَةِ لَعَرَفَ حَالَهُمْ بِكَوْنِ أَعْمَالِهِمْ تُعْرَضُ عَلَيْهِ»؛

«او غیر له هغه وایی: دویل شوی حدیث دظاهر مطابق چې کافرکیدل دي، اومرادله «زما امت»نه امت د دعوت دی نه امت د اجابت او د دی فرمودې مطابق چې دابو هریره په حدیث کې راغلي چې فرمایی: «هغوي ته وایم لیروالی پرهغوي وي» د دی لپاره چې دهغوي حال پرده باندې پټ پاتی دی، دامطلب (چې هغوي له امت د دعوت څخه دی) تائید اوترجیح ورکول کیږی، اوکه چیرته له امت داجابت څخه وای باید دهغوی حال، د دی په خاطرچې اعمال یی ورته عرضه کیږی پوهیدلی». اه.

او هغه څه ته چې مونږ وویلو په ښکاره توګه اشاره کړی ده. والله ولی التوفیق

۱- ج ۱۱ ص ۳۹۳.

نور توضحات چې دحوض حدیث رد وی (دحوض حدیث له قرآن اواجماع سره په تعارض کې)

وروستۍ نکتهٔ: وروسته له دی نه چې د دوه احادیثو ترمینځ موجمع له تیرو وجوهاتو سره ذکرکړه چې قوی اوسالم وجوهات دي، اګرکه ځنی وجوهات نسبت نوروته قووی وجوهات دی، دا راته روښانه شوه چې دحوض پرحدیث باندې وارده اشکال هم بیان کړم او وایم: دحوض حدیث مونږ ته دا را رسوی چې دصحابه و یوه طایفه (ډله) له حوض څخه ګرځول کیږې سره له دی چې الله تبارک وتعالی صحابه عادل بللی اودقرآنکریم په ډیرو آیاتونو کې یی ستایلی، دټولوصحابه و پرعدالت حتی پرمجهولینو باندې یې جمهور اجماع لري، نوداسې یوڅه څرنګه له حوض څخه دیوې طایفې له شړلو سره ورته اوهم غږی لري؟ که چیرته حدیث پرمرتدانو باندې حمل کړو لکه څنګه چې الباجی، قاضی عیاض اونوروکړی[1]، نو خطابی پردی باندی جزم کړی چې هیڅ صحابی له رسول الله نه روسته مرتد شوی نه دی؛ بلکه داعرابو له یو جفاکاره قوم څخه چې داسلام په نصرت کې یی هیڅ هم درسول الله سره نه و کړی مرتد شول.

اوکه چیرته حدیث پرمنافقینو باندې حمل کړو، نو نفاق خو درسول الله په زمانه کې هم وجود درلود اما حدیث وایی: «لَا تَدري مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ»؛ «نه پوهیږی چې لتانه روسته یی څه وکړل».

اوکه چیرته حدیث پرمبتدعینو باندی حمل کړو، نو مبتدعه له صحابهؤ څخه نه دی ځکه مبتدعین وروسته له هغه نه راپیدا شوي دی.

اوکه حدیث په هغوکسانو باندې حمل کړه چې له علی رضی الله عنه سره په (صفین کې وجنګیدل) نو جمهور داشاعره اوماتریده و پرداسې څه باندې راضی نه دی اوپردې نظر دی چې دوی محاربینو اجتهاد کړی اوخطا شوی دي. اوکه حدیث پرامت د دعوت یا ګنهکارانو د امت اجابت باندې حمل کړو خو دحدیث الفاظ داسی یوڅه نفی کووي پردې خاطر چې

۱- نووی په شرح د مسلم ج ۵ ص ۴۶ کې ذکر کړی دی.

تصريح لري چې هغه يې اصحاب دي اوهغه پيژنی اودوی هم هغه پيژني اوهغوی ته پرنامه سره يې غږ کووي. همدا شان څرنګه يې له اصحابو څخه برائت کووي اود دوی په حق کې وايي: «سُحُقًا سُحُقًا»؟ په داسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دامت له ګناهکارانو څخه برائت نه کووي، بلکه دهغو لپاره شفاعت کووي چې هغوي اورته له داخليدونه روسته رابهر کړي[1]

نو څه رنګه چې ګوري دا حديث جداً مشکل دی[2]

۱- او داشان دحديث له نورو اشکالاتوڅخه دادی: داحديث دارنګه اقتضاء کووي چې بايد ټولو صحابه ؤ ته رضی الله عنه ونه وايو، بلکه يواځې پرهغه باندې چې جزم لرو چې له حوض څخه نه شړل کيږی رضی الله عنه ووايو اوکوم چې له حوض څخه نه شړل کيږی دهغو کسانو تعين ول داغراضو دمختلف والی سره مختلف کيږي. مثلا شيعه غلات دجمل دواقعی اصحابوته رضی الله عنه نه وايی اوخوارج حضرت علی عثمان او کوم کسان چې له دوی سره وو رضی الله عنه نه وايی او ځنی حضرت معاويه اوملګروته يی رضی الله عنه نه وايې اوهره ډله دا انګيری چې دوی پرحقه دي اودحوض حديث همدا دوي تأييد وي، که چيرته دحوض حديث پرټولو دغو فرقو باندې منطبق وبلو نوپه دې سره منتهی کيږی چې اکثره صحابه ؤ ته رضی الله عنه ونه وايو!که چيرته يوه ډله له بلی څخه تخصيص کړو نو دلته تحکم بی له معنا دی. نوبايد راشي مونږ ته يی مشخص کړي هغه صحابه ؤ ته چې بايد رضی الله عنه ونه ويل شي کوم کسان دی؟ که داسې ونکولی شي اوهيڅ کله يی کولی هم نشي، نوله مونږ سره به معتقيد شي چې دحوض دحديث معنا دهغه څه په خاطر چې تشريح مو کړ مشکل دی او ظاهر يی پرېښودل کيږی. [مؤلف]

۲- دهمدې لپاره د امام مالک له روايت نه يی دحاجيانو لپاره چې مدينی ته تلل نهی کول، بنا پردې وهابيانوته وايو: که دتاسې په نزد داعمالو دعرضه کيدلو حديث دحوض له حديث سره چې پرصحت يی اتفاق دی معارض وي نو داحديث بيا له قرآن او له اجماع سره هم معارض دی په داسې حال کې چې قرآن داعمالو دعرضه کيدلو حديث تاييد وی لکه څنګه چې تفصيل يی تيرشو نو کوم يو له دی دوه احاديثو څخه له اشکال نه لېرې اوقبول ته نژدې دی ؟ [مؤلف]

نو څه رنګه چې ګوري دا حدیث جداً مشکل دی اوکوم کسان چې دغه حدیث داعمالو دعرضه کولو له حدیث سره برابروي اوله هغوڅخه بیا د حوض حدیث ته ترجیح ورکووي، نوداسی خلکوته واجب دی چې لومړی دي دحدیث معنا په سمه توګه فهم او درک کړی، بیاد دهغه حدیث اوهغه څه چې قرآن اوجمهورو پرې اجماع کړی ترمینځ دصحابهؤ دعدالت اوفضیلت چې دالله تعالی په نیزیی لرې جمع بندی وکړی نوکله یی چې داسې کار په درستې سره ترسره کړ نو په هغه وخت کې بیاچې هرحدیث وغواړې دهغه په مقابله کې د راوړی خو متأ سفانه دوي نه پوهیږی.

دحدیث دالفاظو شرحه اودمعنا بیان یی

درسول الله صلی الله علیه وسلم دا فرموده: «حَيَاتِي» یعنی زما وجود دتاسو په مینځ کې «خَيْرٌ لَكُمْ» یعنی زما دوجود په درلودلو کې دتاسې لپاره خیر اوښیګڼی شتون لري، ځکه چې له بدعاتو فتنو اواختلافاتو څخه دتاسې دحفاظت موجب دی، سره له دې چې درسول الله صلی الله علیه وسلم لیدل کامل یقین اوعرفان ته درسیدو لا امل کیږې، او ورپسې ځنی هغه خیر او ښیګڼي یی په حیات کې وجود لري چې له هرڅه نه ډیرورته اړمن دی بیانووي اوفرمایی: «تُحَدِّثُونَ» دتاء دتوري پرضم او دمشدده دال پرکسر چې له تحدیث (خبروکولو) پرمانا راغلی دی. «وَيُحَدَّثُ لَكُمْ» پرضم دیاء اوفتحه پر دال مشدده سره راغلی . المناوی د«الجامع الصغیر» په شرح کې وایی: «له ما سره پرهغه څه کې چې درته ستونزمن شوی خبرې کووي اوپرهغه خبره چې ستونزې مو لیرې کړی خبری کووم اوتاسې دکمال تر درجې پورته کووم. اواحتمال لري چې معنایی دا وي: اطاعت احداث وی اوزه هم غفران دتاسی لپاره احداث وم اودا داسې څرکندوی چې مختص یی حیات ته نه وي».[1] اه

او وایو: بلکه صحیح هم دی چې په دې شکل: «تُحدِثُون» سره وي دتاء په ضم اودحاء پرسکون د دال پرکسر سره وي. او «يُحدَثُ» دیاء پرضم دحاء پرسکون او ددال پرفتح سره چې داحداث (ایجاد کول) دی راغلی. معنای داسې کیږی: هغه امور اوڅه چې ترسره کووي په خصوصی اوعمومی ژوندانه کې مو ایجاد وي او دهغو په لړ کې دشرعی احکامو نه لکه تحلیل اوتحریم درته ایجادوم چې الله پاک پر حسب داسبابو چې لري یی نازل وي مثلا په حدیث کې راغلی چې یوي ډلی شراب وڅکل مخکې له حراموالی نه یی نوبیا دلمانځه وخت شو اویویی دجماعت ورکولو لپاره مخ ته شو اوداسې قرائت یی وکړو: ووایه ای کافرانو عبادت کووم دهغه څه چې عبادت یی کووي

١- التیسیر، ج ١ ص ٥٠٢.

الله پاک دا آیت را نازل کړو: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ﴾ [النساء: ۴۳]

«ای هغوکسانو چې ایمان مو راوړی دی دمستۍ په حال کې لمانځه ته مه نژدې کیږي، ترڅو وپوهیږی چې څه وایی».

او دا یوستر اوپراخ باب دی بلکې دقرآن اوحدیثو دعلومو څخه یوعلم دی چې داسباب نزول په علم سره یادیږی – په دی اړه مې مخصوص کتابونه لیکلی چې ځنی یی چاپ اوبعضی یی نه دی چاپ شوی اوبیا فرمایی: «وَوَفَاتِي خَيْرٌ لَكُمْ» یعنی زما په وفات کې هم دتاسو لپاره خیردی لکه څنګه چې په صحیح مسلم کې له ابی موسی له رسول الله څخه روایت کړی راغلی: «إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا أَرَادَ رَحْمَةَ أُمَّةٍ مِنْ عِبَادِهِ قَبَضَ نَبِيَّهَا قَبْلَهَا، فَجَعَلَهُ لَهَا فَرَطًا وَسَلَفًا بَيْنَ يَدَيْهَا، وَإِذَا أَرَادَ هَلَكَةَ أُمَّةٍ عَذَّبَهَا وَنَبِيُّهَا حَيٌّ، فَأَهْلَكَهَا وَهُوَ يَنْظُرُ، فَأَقَرَّ عَيْنَهُ بِهَلَكَتِهَا حِينَ كَذَّبُوهُ وَعَصَوْا أَمْرَه»؛ «هرکله چې الله پاک له بندګانو څخه یی یوامت ته درحمت اراده وکړی مخکې له هغه نه یی پیغمبر قبض روح کووي، اوپیغمبر یی هغوی لپاره مخ کښ او استازی ګرځوي. نوکله چې الله پاک دیوامت دهلاکت اوعذاب اراده لري پیغمبریی ژوندی پریږدي، اوبیا هغه امت هلاک وي په داسې حال کې چې هغه (پیغمبریی) ګوري اوهغه په خپلوسترګو دهغه امت دهلاکت شاهد دی چې هغه یی تکذیب کوولو اودهغه له امرنه یی سرغړونه کوله». «فَرَط»، هغه څوک دی چې له قوم څخه یی مخکې ځي ترڅو هغه قوم ته داستوګنی ځای آماده کړي . اوبیا کوم خیرچې دوفات په موده کې یی دفرط دمعنا مطابق چې دمسلم په روایت کې راغلی بیانوی اوفرمایی: «تُعْرَضُ عَلَيَّ أَعْمَالُكُمْ»، لکه څنګه موچې مخکې په دریمه وجه کې وویل. یا اجمالی عرضه کیدل داعمالودی لکه څنګه چې په څلورمه وجه کې راغلل: یعنی نفس داعمالو پرته له ذکر د ترسره کوونکي یې هغه ته عرضه کیږې، د دې لپاره چې مقصود دنفس عمل پیژندل دی داچې ښه دی او که بد. اوله دارنګه عرضه کیدلو، دکفارو اومرتدانو اعمال بهرکیږي

د دي لپاره چې دهغوي اعمال رسول الله ته نه عرضه کيږي، اوبيا فرمايي: «فَمَا رَأَيْتُ مِنَ خَيْرٍ» يعنى دخير اعمال چې وينم، «حَمِدْتُ اللَّهَ عَلَيْهِ» يعنى دهغه لپاره دالله پاک حمد اوستاينه کوم د دي لپاره چې تاسوته يې دهغو دترسره کوولو اوتاسی ته يې پرهغه باندې هدايت درکړی دی. «وَمَا رَأَيْتُ مِنَ شَرٍّ»؛ يعنى دشر اعمال چې وينم «اسْتَغْفَرْتُ اللَّهَ لَكُمْ» يعنى په اجمالی صورت سره له الله نه درته دبښني غوښتنه کووم ، يا کيدای شي معنايی دا وي چې له الله څخه غواړم چې تاسې دصالحه اعمالو لورته هدايت کړي ترڅو دهغو په ترسره کوولو سره دتاسی گناهونه وبښي.

او له دي حديث نه ځنی امور برداشت کيږی:

لومړی: په قبر شريف کې درسول الله صلى الله عليه وسلم ژوند، چې برزخې حيات دی، اودشهيدانو له ژوندنه کاملتره دی؛الله پاک فرمايي: ﴿وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتٌۢ ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ١٥٤﴾ [البقرة: ١٥٤] «او هغو خلکو ته چې د الله په لار کښې ووژل شي، مړه مه واياست! داسي خلک خو په حقيقت کښې ژوندي دي، خو تاسي دا شعور نه لرئ چې د هغو په ژوند خبر شئ».

او فرمايي: ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًاۢ ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ١٦٩ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ﴾ [آل عمران: ١٦٩-١٧٠] «کوم کسان چې د الله په لار کښي وژل شويدي، هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقيقت کښي ژوندي دي، د خپل رب په وړاندي روزي مومي؛ څه چې الله د خپلي لوريني له مخي هغو ته ورکړيدي، پر هغه خوښ او سوکاله دي؛ او پدې ډاډه دي چې کوم مؤمنان چې له هغو وروسته په نړی کښي پاتي دي او لا تر اوسه پوري هلته نه دي رسېدلي، د هغو لپاره هم څه وېره او کړاؤ نشته».

امام ابن حزم په المحلی (ج ١ صلى الله عليه وسلم ٢٥) کې وايي: «دمسلمانانو ترمينځ هيڅ اختلاف وجود نلري چې دالله په نيزد انبياء عليه سلام دلوړی درجې اوقدر اواعلی ترينه

كرامت اوفضيلت دنورو په پرتلې سره لري اوهرڅوک چې په دې اړه مخالفت وکړي مسلمان نه دی». اه

او حافظ السخاوی په القول البديع (ص ۱۲۵) کې فرمايي: «له دغو احاديثو څخه داسې برداشت کيږی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په مداومه توګه ژوندی دی په دې خاطر چې عادتا محال دی چې دهستۍ وجود دشپې او ورځې له داسې شخص نه چې پرهغه باندې سلام ووايو مونږ ايمان لرو او تصديق وويې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په قبر کې يې ژوندی دی، روزی خوري اوزمکه يې جسد مبارک نخوري پردی باندې اجماع ده اوځنی علماؤ شهيدان او مؤذنين هم دارنګه بللی اوپه صحت سره رسيدلی چې دډيری علماء اومؤذنينو قبرونه چې خلاص شوی وو اجسامو يې تغيرنه وو کړی حتی پرځينو باندې چې نيکرزی وی دهغو حالت تغير نه وکړی په خپل حالت سره پاتې وې اوانباء په قطعی توګه له شهداؤ څخه غوره دي». اه

په صحيح مسلم کې له انس له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه راغلی چې وی ويل: «مَرَرْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي بِمُوسَى عِنْدَ الْكَثِيبِ الْأَحْمَرِ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي قَبْرِهِ»؛

«داسراء په شپه دموسی عليه سلام له څنګه تير شوم الكثيب الاحمر ته نژدې چې هغه په قبر کې يې ولاړ وو لمونځ يې کووي».

همدارنګه په صحيح مسلم کې له ابو هريره له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه راغلی چې وی فرمايل: «لَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي الْحِجْرِ وَأَنَا أُخْبِرُ قُرَيْشًا عَنْ مَسْرَايَ»؛ «په خپل کور کې وم چې قريشيانو دبيت المقدس په اړه دمعراج په شپه کې له مانه څه شيان وپوښتل».

په هغه حديث کې راغلی چې: «وَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي جَمَاعَةٍ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ , فَإِذَا مُوسَى قَائِمٌ يُصَلِّي، فَإِذَا رَجُلٌ ضَرْبٌ جَعْدٌ كَأَنَّهُ مِنْ رَجُلِ شَنُوءَةَ، وَإِذَا عِيسَى بْنُ مَرْيَمَ قَائِمٌ يُصَلِّي أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ الثَّقَفِيُّ وَإِذَا إِبْرَاهِيمُ قَائِمٌ يُصَلِّي أَشْبَهُ النَّاسِ بِهِ صَاحِبُكُمْ، يَعْنِي نَفْسَهُ، فَحَانَتِ الصَّلَاةُ، فَأَمَمْتُهُمْ»؛ «همدارنګه دانبياؤ يوه ډله ماته را وښودل شول؛ موسى عليه سلام مې ډنګر او محکم کس وموند، چې په لمانځه ولاړ وو اودشنوئته خلکوته ورته وو همداشان عيسى عليه سلام مې وليدو چې دلمانځه داداکولو په

حال کې وو اوعروة بن مسعود ته یی شباهت درلود. داچې دلمانځه وخت شو هغوی ته مې امامت وکړ».

او د انس حدیث صحت ته رسیدلی چې: «الأَنْبِيَاءُ أَحْيَاءٌ فِي قُبُورِهِمْ يُصَلُّونَ»؛ «پیغمبران ژوندې دي په قبرونو کې یی لمونځ کووي». البیهقی او نورو داحدیث صحیح بللی دی.

مقصودددادی چې قرآن سنت اجماع واړه په قبرونوکې دانبیاؤ پرحیات باندې اوداچې اجساد یی نه خرابیږی دلالت لري.

دوهم: درسول الله صلی الله علیه وسلم حریص والی دامت پرمصلحت خیرخواهې دهغو اود هرمناسبت لپاره چې وې هغوته دعاکول.

او دا دتعجب ځای نه دی ځکه هغه صلی الله علیه وسلم ﴿بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ١٢٨﴾ [التوبة: ١٢٨]

«دمؤمنانو په (نسبت) رؤوف (او) مهربان دی».

لکه څنګه چې خالق اومولایی دارنګه توصیف کړی دی. مهربانی اورأفت یی هغه مهال تجلی مومې چې دقیامت په عظیم موقف کې دشفاعت لپاره درومې اوخپل پرور دګارته پرلپسې ورځې ترڅو دامت په حق کې یې مراجعه وکړي، او پروردګار یی هم ځواب ورکوي غوښتنه یی قبلوي اوهغه خپل ځان ته نژدې کووي. تر دې چې مالک خازن د دوزخ رسول الله ته فرمایي: «مَا تَرَكْتَ لِغَضَبِ رَبِّكَ فِي أُمَّتِكَ مِنْ بَقِيَةٍ»؛

«دپروردګار د غضب (یعنی دوزخ) ته دی له امت نه څه باقی پرې نښودل».

نو پس ای الله پرهغه باندی صلاة سلام اوبرکات ولیږه ، اوکامل ترینه اوافضل ترینه جزا هغه ته ورکړه.

دریم: طاعاتو دترسره کولو او دمعاصیو دپرېښودلو ته تشویق ول،

په دی خاطر که یو مؤمن کس وپوهیږی چې اعمال یی رسول الله ته وړاندې کیږی، اوحسناتو لپاره یی خوشحالیږی، نو دا یوه انګیزه کېږې ده ته چې طاعات یی زیات کړي او له معاصیو څخه یی دامکان ترحده ځان وساتی ترڅو پیغمبر یی خوشحاله کړي.

داچې ابودرداء اونورو له هغو اعمالو څخه الله ته پناه وړله چې خپلوانو ته یی شرمنده نشي؛ لکه څنګه چې مخکې تیرشول ، نویو مؤمن شخص په طریق اولی سره له هغو اعمالو ځان وساتی چې پرهغه درسول الله په وړاندې شرمنده کیږی.

د دغې جزئی پای دچهارشنبی په سهار

۱۵ د شوال کال ۱۳٦۸ قمری.

الله پاک دی زمونږ عاقبت په خیر اوسعادت سره ختم کړی مونږ والدینو مشایخو دوستانو ته دمغفرت وکړی

په ریښتیا چې هغه پرهرڅه توانا اوداجابت زیبنده دی.

فایده:

کله چې وهابیانو ته حدیث راوړل شي ګوری چې د دوی له اهواء اونظریاتو سره موافق نه وي لکه داعمالو دعرضه کیدلو حدیث او وینی چې له هغه دتیښتي لاره اوچاره نلري نو په دې خبروسره یی چې: «داحدیث په صحیحینو کې نشته اویا له ستهٔ وکتابونو څخه یوه یی هم نه دی روایت کړی»! نو په دې شکل سره کوم کسان چې دومره علم نه لري داسې په توهم کې اچووي چې که کوم حدیث په صحیحینو کې نه وي اویا په نورو سته ؤ کتابونو کې نه وې راغلی نو هغه حدیث ضعیف یا موضوعی دی.

اوداسې وهم یوباطل وهم دی چې هیڅ صحیح علمی بنسټ نه لري، بلکې دا دهغوی له بدعاتو څخه دي چې په دی زمان کې یې ښکاره کړی دی، ځکه په دنیا کې هیڅ کوم عالم نه کوم فقیه مجتهد اونه کوم حافظ اومحدث داحادیثو دصحت لپاره داسی شرط ټاکلی دی چې کوم حدیث که په یو دشپږو صحیحو کتابونو کې راغلی وو هغه صحیح او بغیر له هغونه که کوم حدیث وی هغه به ضعیف یا موضوعی وي

بلکه ټول علما په دې سره متفق دی کله چې په حدیث کې دصحت شروط وي عمل کول پرهغه باندې واجب دی فرق نه کووي چې په کوم کتاب دحدیثو کې روایت شوی دی.

او دا ابن تیمیه دی چې په تألیفاتو کې یی پرهغو احادیثو استدلال کړی چې هغه یی الخلال، ابن بطه او غیره وته منسوب کړی او دا حافظ ابن القطان دی چې دابن عمر حدیث یی صحیح بللی داچې هغه اودس کولو او پاپوښ یی هم په پښو وو اوپرخپل پاپوښ باندې یی مسح کوله او ویل یی:

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دارنګه مسح کوله. البزار هغه په خپل مسند کې یی روایت کړی دی. او حافظ الضیاء المقدسی په المختاره کې احادیث صحیح بللی چې په کتب ستهٔ و کې نشته او دارنګه نورو حفاظو لکه الدمیاطی، المنذری، العراقی، العسقلانی او غیره ؤ، دا رنګه کړی.

او حافظ ابن حزم په «کتاب مراتب الديانة» داحادیثو صحیح کتابونه چې پرهغو باندې اعتماد کیږی رتبه بندی کړی او وایی: «لومړنی کتابونه، صحیحان (بخاری او مسلم) دی، ورپسې صحیح ابن السکن، او المنتقی د ابن الجارود، او المنتقی دقاسم بن اصبغ، دی او وروسته له دی کتابونو څخه، د ابی داود کتاب دی او بیا النسائی او مصنف قاسم بن اصبغ او مصنف الطحاوی او مسانید د احمد، البزار، ابن ابی شیبه، ابن ابی ابکر، عثمان، ابن راهویه، الطیالسی او الحسن بن سفیان. . . ترآخره. . . که غواړې مراجعه ورته وکړې: (تدریب الراوی شرح تقریب النواوی صلی الله علیه وسلم ۲۲).

مقصود دادی کوم څه چې وهابیت دهغه احادیثو په اړه کوم چې بغیر دکتب سته و څخه روایت شوي څه گومان کووي

دا نه عقل اونه هم نقل تائیدوي بلکې یوبدعت دی چې دوی ایجاد کړی دی ترڅو دهغه په وسیلې سره کوم څه یی جې دخوښې اونظریې موافق و ومنی اوکوم څه یې چې داهواء سر سم نه دي ترې خلاص شي؛ځکه دوي نه انصاف پیژنی اونه یی دهغه خوند څکلی دی او شاید څه دانصاف په اړه اوریدلی هم نه وي

مگر له خصومو نه یی او کوم کسان چې له دوی سره مناظرې کووي!

الله پاک دی مونږ اوهغوي په سمه لاره هدایت کړي.